فهـــرســـت

شمېره	عـــنـــوان	مـــخ
۱	د تجويد د علم تاريخ ، او اهميت	۴
۲	د تجويد د علم ثبوت	
۳	د تجويد د علم لغوي او صطلاحي معنیٰ ، موضوع ، غرض	۵
۴	د علم تجويد فضيلت ، فائده (ګټه) ، اركان	
۵	د علم تجويد واضعين ، د علـم تجويد مسمیٰ ، حـكـم	٦
٦	د ترتيل تفسير	
۷	لـــحـــن	
۸	د لحن او د هغو د ډولو تعريفونه	۷
۹	د اعوذبالله ، او بسم الله ثـبـوت	
۱۰	د اعـوذ بالله حكم ، د اعـوذبالله او بسم الله ځايونه	
۱۱	د ۳ محلو لپاره ۴ حكمونه	
۱۲	د سورت توبه په سر كي بسم الله نه ويل ، او شروع	۸
۱۳	د مخارجو په بيان كي ، تعريف ، تعداد ، ډولونه ، او د حرف تعريف	
۱۴	د مخارجو وېش ، او اختلاف	
۱۵	اول ، دوهم ، دريم ، څلورم مخارج	
۱٦	پنځم ، او شپږم مخرجونه	۹
۱۷	د غابنو پېژندل ، او ژبه	
۱۸	اووم ، او اتم مخارج	
۱۹	نهم ، لسم ، او يوولسم مخارج	۱۰
۲۰	دوولسم ، ديارلسم ، او څوارلسم مخارج	
۲۱	پنځلسم ، شپاړلسم ، او اوولـسم مخارج	
۲۲	د حـرفـو د مخارجـو د ادا نقشه	
۲۳	د صفت تعريف ، ډولونه ، تعداد	۱۱
۲۴	په حرف كي د صفاتوشمېر ، په حرف كي د صفاتو معلومول	
۲۵	د صفاتو نقشه	۱۲
۲٦	هـــمـــس	
۲۷	جـــهـــر	
۲۸	شـــدت	۱۳
۲۹	رخـــوت	
۳۰	تـوســـط	
۳۱	استعـــلاء ، او د هغه مرتبې	
۳۲	استـفـال	
۳۳	اطـبــاق	۱۴
۳۴	انفتـــاح	
۳۵	اذلاق	

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳٦	اصـمات	۱۴
۳۷	صَفِيـــــر	
۳۸	قـلـقـلــه	
۳۹	د قلقلې ډولونه او مرتبې	
۴۰	لــــيـــن	۱۵
۴۱	انـحِـراف	
۴۲	تــكريـــر	
۴۳	تَـفَـشِّـي	۱٦
۴۴	استطالت	
۴۵	د صفت د معلومولو طريقه	
۴٦	صفـات د كيفيت پـه لحاظ	
۴۷	حروف د مرتبو په لحاظ	
۴۸	د ۲۹ حروفو د مخارجو او صفاتو اجراء	۱۷
۴۹	صفات عاريضه	۱۸
۵۰	تفخيم او ترقيق	
۵۱	شبه مستعليه	
۵۲	د نون ساكن او تنوين تعريف	
۵۳	په وقف كي د تنوين حكم	۱۹
۵۴	د ساكن نون او تنوين حكمونه	
۵۵	د ادغـام سبـبـونـــه	۲۰
۵٦	اظـــهـــار	۲۱
۵۷	د اظهار لامل او مرتبې	
۵۸	اقـــــلاب	۲۲
۵۹	د اقلاب لامل	
٦۰	اخــفـــاء	
٦۱	د اخفاء لامل او د تورو مرتبې	۲۳
٦۲	د ساكن نون او تنوين ځيني توپيرونه	
٦۳	ميم ساكن	۲۴
٦۴	د لام په قاعدو كښي	۲۵
٦۵	لام مطلق	
٦٦	حـــركـت	۲٦
٦۷	امــالـــه	
٦۸	اشـــبــاع	
٦۹	تسـهـيـل	۲۷
۷۰	د راء په قاعدو كښي	
۷۱	د راء لـومـړى حالت	
۷۲	د راء د نرم (تش) والي پاته ۴ صورتونه	

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۳	د راء دوهم حالت	۲۸
۷۴	دریمه ، اوځلورمه نوعه (قسم)	
۷۵	د راء دریم حالت	۲۹
۷۶	د راء د دریم حالت دوهمه نوعه	
۷۷	د راء د ډکوالي راتلونکي ۴ ځایونه	
۷۸	د راء د ډکوالي وروسته ۳ ځایونه او مشدده راء	۳۰
۷۹	د کلمې تعریف ، اقسام	
۸۰	فـعـل ، حـــرف	
۸۱	د حرف قسمونه	
۸۲	د اسم او فعل ترمنځ توپیر	۳۱
۸۳	شد لرونکي نون او میم (نون مشدد ، میم مشدد)	
۸۴	غـــنــــة	
۸۵	مـــــــدّ	۳۲
۸۶	د مـــد ډ ولـــونـــه	۳۳
۸۷	د اصلي مد ډولونه	
۸۸	مـــد صلـه	
۸۹	د هاء کنایة دوهم ، دریم ، او څلورم حالت	۳۴
۹۰	د صـــلـة مـــد ډولـــونه	۳۵
۹۱	فـــرعـــي مـــد	
۹۲	د فـــرعـــي مـــد اقسام	۳۶
۹۳	حروفِ مقطعات	
۹۴	وروستي مدونه (د مد لقبونه)	۳۸
۹۵	وقـــف	۳۹
۹۶	د وقف ډولونه	
۹۷	د وقف په حالتونو کي بدلون	۴۱
۹۸	د وقف علامې	
۹۹	د معانقې شمېر په قران الکریم کي	۴۳
۱۰۰	و صــــــــل	۴۴
۱۰۱	ســکــتـــــة	
۱۰۲	اجتماع ساکنین	۴۵
۱۰۳	د همزې بیان	۴۶
۱۰۴	هـــای ضـمـیر	۴۸
۱۰۵	قـطـع	۴۹
۱۰۶	مشهور قرأتونه	۵۰
۱۰۷	په تلاوت کي د آواز ښایست	۵۴
۱۰۸	غـــوره لهجې	۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د تجوید د علم تاریخ ، او اهمیت)

تاریخ : لومړني کسان چي د تجوید قاعدې يې ترتیب کړې د تالیف په لومړی عصر کي د لغتو او قراءة امامان وه ، د ځینو په آند لومړی کس خلیل بن احمد فراهیدي وو چي نوموړی کار يې تر سره کړئ ، د ځینو په آند لومړی کس ابوالاسود الدولي وو ، چا بیا ویلي دي ابوعبید القاسم بن سلام هغه وخت نوموړي قاعدې ترتیب کړې چي اړتیا ورته پیداسوه ، کله چي اسلامي لښکري زیاتي بریاوي ترلاسه کړې د اسلام بیرغونه پر ډیرو سیمو ورپېدل د عربو ژبې د عجمو سره ګډې سوې ډېر عجم د اسلام په دین مشرف سوه د قرانکریم سره يې مینه وه ، ډېر عجم د قرانکریم په زده کړه بوخت سوه خو عجمي ژبه د عربي ژبي څخه ډېره بېله وه په پایله کي عجمو نه سوای کولای چي په سمه توګه د قرانکریم تلفظ وکړي ، د دې وېره پیدا سوه چي په قرانکریم کي به اختلاط ، اختلاف او تحریف رامنځته سي نو ځکه علماء دې ته اړسوه چي داسي قاعدې ترتیب کړي چي په مټ يې ټول قومونه وکړای سي چي د قرآنکریم صحیح تلفظ وکړي ، لوموړی کس يې چي په دې علم کي يوه قصیده منظومه کړه ابي مزاحم الخاقاني وو ، دغه کار يې د هجري سنې د دریمي پیړۍ په پای کي ترسره کړئ او دی په ۳۲۵ هـ سنه کي وفات سو.

د تجوید د علم اهمیت : د تجوید اهمیت د قرآن کریم داسي لوستل چي له غلطیو مخنیوی وسي یعني د تجوید د احکامو مراعاتول ، چي د تجوید د احکامو او د حروفو د تلفظ نه مراعاتولو ته لحن وایي چي وروسته به ذکر سي....

(د تجوید د علم ثبوت)

د تجوید علم په دغه څلورو مشهورو د لیلو سره ثابت سوی دی چي هغه دا دي ، لکه :- (آیات ، حدیث ، اجماع ، قیاس) .

۱ : ایات : الله سبحانهُ و تعالیٰ په سورة المزمل کي فرمایي : وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً المزمل۴ ژباړه : او قرآن ښه په کراره کراره لوله ، چي تفسر يې صاف ویل دي بیضاوي رحمة الله فرمایي :- اَیْ جَوِّدِالْقُرْآنَ تَجْوِیْدًا (کلام الله په تجوید سره ښائسته کړی) او څلورم راشد خلیفه حضرت علي رضي اللهُ عنهُ فرمایي : الترتیل هو تجوید الحروف و معرفة الوقوف ژباړه :- یعني ترتیل نوم دی ، معنیٰ د تجوید حروف او د وقفو د ځایو پیژندل دي ، چي انشاالله مخکي به راسي .

۲ حدیث : رسوالله ﷺ فرمایي:- * رُبَّ قَارِئٍ لِلْقُرْآنِ وَالْقُرْآنُ يَلْعَنُهُ * (یعني ډېر داسي کسان شتون لري کوم وخت چي دوی تلاوت د قرآن کوي ، نو قرآن پرې لعنت ویونکی وي) ، ملا علي قاري رحمةالله فرمایي :- چي په د غه حدیث کي ۳ ډوله کسان شامل دي ۱:- بې عمله ۲:- تحریف کوونکي ۳:- غلط ویوونکي .

۳ اجماع : ملاعلي رحمةالله فرمایي : هذَا الْعِلْمُ لَاخِلَافَ فِيْ اَنَّهُ فَرْضٌ كِفَايَةٌ وَالْعَمَلُ بِهِ فَرْضٌ عَيْنٌ عَلى صَاحِبِ كُلِّ قِـرَآءَةٍ وَرِوَايَةٍ وَلَوْكَانَتِ الْقِرَآءَةُ سُنَّةً .

ژباړه : په دې کي د هیڅا اختلاف او شخړه نسته چي د علم تجوید قاعدې فرض کفایي دي او د هغه موافق عمل کول په قرائت او روایت کي فرض عین دي ، که څه هم خپله تلاوت کول مسنون او مستحب دی ، فرض او واجب نه دئ.

۴ قیاس : په علم تجوید سره د تلاوت ښایست دوه چنده کیږی نو ځکه په قیاس سره هم ثابت سو علم التجوید .

یادونه : علم تجوید همدا ډول په (فقه ، اقوال علماء) سره هم ثابت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ اقوال دعلمآء: امام علامه شمس الدین(رح) پـه المقدمه الجذریه کښي فرمایي : وَالْاَخْذُبِالتَّجْوِيْدِحَتْمٌ لَازِمُ , مَنْ لَمْ يُجَوِدِ الْقُرْانَ اٰثِمُ . ژباړه : قرآن کریم د تجوید موافق ادا کول ډېـر ضروري ، او لازم دي او هغه څوک چـي قران کریم په تجوید سره و نـه وایـي هـغـه ګـنـاهـګـاره دی .

فقه : فقهاء کرامو فرمایلي دي چي قران کریم په تجوید سره ویل واجب او ډېر ضروري دی ، ځکه په غلط ویلـو سره بعضي وخـت معنٰی داسي بـدلیږي چـي پـه هـغـه سره لمونځ فـاسـدیـږي .

(د تجوید د علم لغوي او صطلاحي معنی ، موضوع ، غرض)

۱ : لغوي او اصطلاحي معنی:-تجوید په لغات کي (تَحْسِيْنُ شَيْئٍ بِالشَّيْئِ) یعني د یوه شي ښایسته کول په بل شي باندي ، چي یو شئ قرآن الکریم دی ، او بل شئ تجوید دی ، مطلب د قرآن الکریم ښایسته کول په تجوید سره .

او تجوید په اصطلاح کي: (هُوَعِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ مَخَارِجِ الْحُوْرُفِ وَصِفَاتِهَا) یعني دا یو علم دی چي پـه ده کي بـحـث د حروفو د مخارجو او صفتونو کیږي ، یا په بل عبارت: حروفوته حق ، او مستحق ورکول ، د حق څخه مراد مخارج او صفات لازمة دي ، د مستحق څخه مراد صفات عارضیه دي .

۲ د علم تجوید موضوع: د علم تجوید موضوع پر حروف هجاء (الـفـاظ قـرآني) یـا د الف څـخـه تـر یـا پوري ده .

۳ د علم تجوید غرض (مقصد): (صَوْنُ الِّسَانِ عَنِ الْخَطَاءِ فِیْ تِلَاوَةِالْقُرْآنِ) یعني د ژبي ساتنه ده د تلاوت په وخت کي له خطاء څخه ، یا پـه بل عبارت : (تِلَاوَةُالْقُرْآنِ كَمَااُنْزِلَ وَتَحْسِيْنُ القِرَآءَةِ) یعني :- د قران الکریم داسي تلاوت کول لکه څنګه چي نازل سو ئ دی ، او آواز ښایسته جوړول .

(د علم تجوید فضیلت ، فائده (ګټه) ، ارکان)

۱:-فضیلت: د تجوید علم افضل د علمو دی ځکه چي ارتباط یې له کلام الله سره دی نو د هر علم ارتباط چي د کلام الله سره وي هغه بهتر د علمو دی ځکه کلام الله (قران الکریم) تر ټولو کتابو افضل (بهتره) دی .

۲:-فائده(ګټه): (سَعَادةُالَّدارَيْن) یعني د دواړو جهانو نیکبختي ده ، او یا هم د الله عـزوجـل رضاء لاسته راوړل دي .

۳ ارکان: د علم تجوید عـمـده ۴ ارکـان دي ، لکه : ۱:- مخرجونه ، ۲:- صفتونه ، ۳:- ترکیبي قـاعـدې یـا اجراء لکه:- (مـد ، ادغـام ، اخـفـاء ،اقلاب ، غـنـه ، او داسي نور...) ۴ ریاضة الـسان : یـعـنـي پـه خـپـلـه ژبـه کـوښـښ کـول تـر څـو حـروف صـحـیـح ادا سـي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د علم تجويد واضعين ، د علم تجويد مسمى ، حكم)

۱: واضعين: د علم تجويد وا ضعين ۵ دي، لکه: خليل بن احمد فراهيدي، عمروبن عثمان، محمد بن مستنير، يحيىٰ بن زياد ، مبرد (رح).[1]

۲: د علم تجويد مسمى:- ځکه په علم تجويد سره مسمىٰ سوئ دى ، چي علي کرم الله وجههُ د ترتيل معنٰى په تـجـويد سـره ور کـره .

۴حکم:- علم تجويد فرض کفايي دى، او عمل وربانديٍ کول فرض عين دى، يعني که چيري په کلي کي يو کس علم تجويد زده کړي د ټول کلي غاړي خلاصي دي ، لکه د جنازې لمونځ ، نو د همدې لپاره بايد ضروري پـه کلي يوقاري موجود وي .

(د ترتيل تفسير)

حضرت شاه عبدالعزيز (رح) د * ترتيل * په تفسير کي فرمايي:- چـي ترتيل پـه لغات کـي واضح او صاف ويلـو تـه وايـي ، او په شريعت ، کي ترتيل د (۷) شيانو د رعايت کولو نوم دى ، چي هغه په داسي ډول دي ۱:- هر حرف پـه خـپـل مـخرج کي ادا کول ، ۲:- د وقف اوابتدا رعايت کول ، ۳:- درې سره حرکات صاف ادا کول لکه (زور ، زېر ، پېښ) ۴:- آواز په اندازه لوړول ، ۵:- آواز ښايسته جوړول ، ۶:- د تشديد او د مد رعايت کول ، ۷:- د عذاب پـر آيـاتونو اسـتـغفارويل ، او د ثـواب او ترغيب پر آيتونو د جنت غوښتنه او سوال کول .



[1] من كتاب جمال القرآن [كامل] ص : ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د لحن او د هغو د ډولو تعريفونه)

۱:لحن:- لحن په لغات کي غلطی ته وايي ، په اصطلاح کي د تجويد خلاف قرآن ويل يا غلط ويل يا بې قاعدې ويلو ته لحن وايي.

۲:لحن جلي:- لحن جلي په لغات کي درنې ، ښکاره غلطی ته وايي په اصطلاح کي د يوه حرف پرځای بل حرف ويل دي .

۳:لحن خفي :-لحن خفي په لغات کي سپکي ، پټي غلطی ته وايي ، په اصطلاح کي د تجويد د قواعدو خلاف قرآن ويل دي.

يادونه:- لحن جلي ډېر ډولونه لري چي هغه مهم يې د تيري سوي صفحې په جدول کي ذکر سول .

(د اعوذبالله ، او بسم الله ثبوت)

د قرآن شريف د شروع کولو څخه مخکي د اعوذبالله او بسم الله ويل ضروري دي .

۱:- تعوذه په آيات کريمه سره ثابته ده الله ﷻ فرمايي(فَاذا قرائت القرآن فاستعذ بالله من الشيطان الرجيم) النحل۹۸اية .

۲:- د بسم الله ثبوت : په دغه مشهور حديث سره راغلئ دی (كُلُّ اَمْرٍذِیْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ بِبِسْمِ اللهِ فَهُوَ اَقْطَعُ وَاَجْزَمُ) .

يادونه:اعوذ بالله ته تعوذ ، او بسم الله ته تسمية ويل کيږي .

(د اعوذ بالله حکم ، د اعوذبالله او بسم الله ځايونه)

د اعوذ بالله په حکم کي د ۲ ډلو اختلاف دی ، اوله ډله وايي تعوذه د تلاوت په سر کي واجب ده ، او بله ډله وايي مستحب ده .

واجب والا وايي : اعوذ بالله خو په آيت سره ثابته سوه ، نو د لته د فاستعذ صغه راغلې ده نو دا خو د الله له طرفه - امردی او امر لپاره د واجبوالي دی دا د هغه چا دليل دی چي تعوذة واجب بولي .

مستحب والا بيا وايي : چي تلاوت د قران شريف خو مستحب دی او اعوذ بالله فرعه د قرآن شريف ده نو چي تلاوت مستحب سو اعوذ بالله خو بيا په طريق اولا مستحب ده ، نو موږ يې هم مستحب بولو .

ځايونه:د تعوذِ او تسمية لپاره ۳ محله دي ۱:- **ابتدا تلاوت ابتدا سورت** ۲:- **ابتدا تلاوت در ميان سورت** ۳:- **ابتدا سورت در ميان تلاوت** .

(د ۳ محلو لپاره ۴ حکمونه)

د ۳ محلو لپاره ۴ حکمونه دي کوم چي مخکي تېرسوه ،۱:- **وصل کل** ۲:- **فصل کل** ۳:- **فصل اول وصل ثاني** ۴:- **وصل اول فصل ثاني** .

وصل کل:- هغه ته وايي چي تعوذه ، تسمية ، او سورت په يوه ساه وويل سي ، او **فصل کل** د هغه برعکس هر يو جلاجلا وويل سي.

فصل اول وصل ثاني:- هغه ته ويل کيږي ، چي تعوذه ، جلا وويل سي تسمية او سورت په يوه ساه وويل سي .

او وصل اول فصل ثاني:- بيا هغه ته ويل کيږي ، چي تعوذ او تسمية په يوه ساه وويل سي او سورت په بله ساه وويل سي ، په اول محل کي څلور حکمونه جائز دي ، په دوهم محل کي ۳ حکمونه جائز دي چي هغه نا جائز يې (فصل اول وصل ثاني) دی ، په ۳ محل کي هم ۳ حکمونه جائز دي چي هغه ناجائز يې دا دی (وصل اول فصل ثاني)هغه چي نا جائز دي هغه ځکه چي اورېدونکي به دا فکر کوي چي بسم الله د دغه سورت حصه (برخه) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د سورت توبه په سر کي بسم الله نه ويل ، او شروع)

۳ دليله:- دي چي د سورة برأت په سر کي بسم الله نه ويل کيږي ، ۱:- کله چي عثمان (رض) قرآن جمع کوی نو بسم الله يې دلته نه وليکل ۲:-بسم الله خو د رحمت لپاره ويل کيږي مگر په سورة توبة کي د عذاب بيان سوی دی نو ځکه بسم الله نه وايو ۳:- سورت توبة او سورة انفال چي مخکي تر دغه سورت دی دوی دواړه په حکم کي يو دي ، د سورت توبة د شروع کولو مخکي ۳:-حکمونه جائز دي ۱:-وقف ۲:-وصل ۳:-سکته ، بهتره يې وقف دی .

(د مخارجو په بيان کي ، تعريف ، تعداد ، ډولونه ، او د حرف تعريف)

۱:تعريف :-مخرج په لغات کي د راوتلو ځای ته ويل کيږي ، په اصطلاح کي د کومو ځايو څخه چي حروف اداکيږي هغه ځايو ته مخرج وايي **تعداد** د امام سيبوية (رح) پر مذهب مخارج ۱۶ دي ، د امام فراه(رح) پر مذهب۱۴دي ، او د امام خليل(رح) پر مذهب مخارج ۱۷دي ، هغه بهتره او مشهور يې د امام خليل مذهب دی ، ځکه هغه هر حرف ته خپل مخرج ورکړی دی .

مخرج پر ۲ ډوله دی ، **۱:- مخرج محقق ۲:- مخرج مقدر** .

۱مخرج محقق :- هغه مخرج ته ويل کيږي چي معلوم ځای و لري ، لکه شونډان ، ژبه ، حلق .

۲:- مخرج مقدر :- هغه مخرج ته ويل کيږی چي معلوم ځای و نه لري ، لکه جوف دهن ، او خيشوم .

۳ حرف :-په لغات کي طرف يا کنارې‌ته ويل کيږي، په اصطلاح کي دا يو آواز دی چي تکيه کوي پر مخرج محقق او يا مخرج مقدر.

(د مخارجو ويش ، او اختلاف)





(اول ، دوهم ، دريم ، څلورم مخارج)

۱مخرج: دجوف دهن دی (دخولې دننه خالي ګاه) د دې څخه (الف ، واو، ی) ادا کيږي ، الف چي هرکله ساکن وي ماقبل يې زوروي لکه اَلصِّرَاطَ ،واو چي ساکن وی ماقبل يې پيښ وي لکه اَلْمَغْضُوْبِ ،يا چي ساکنه وی ماقبل يې زير وي لکه (نَسْتَعِيْنُ).

۲مخرج : د اقصیٰ حلق دی کوم چي د ځيګر خوا ته دی دلته دا حروف ادا کيږي (ء ، هـ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳مخرج : د وسط حلق دی کوم چي د حلق ما بینځ دی دلته دا حروف ادا کیږي (ع ، ح) .

۴مخرج : د ادنیٰ حلق دی کوم چي د خولې خوا ته نژدې دی دلته دا حروف ادا کیږي (غ ، خ).

یادونه : نوموړو حروفو ته (ء ، هـ ، ع ، ح ، غ ، خ) ته حروفي حلقي وائي .

د حلق نقشه او په هغه کي د حروفو ادا کول



(پنځم ، او شپږم مخرجونه)

۵مخرج : د لهات دی (حلقی ژبی) ، هر کله چي د ژبي بیخ د مقابل پورته تالو سره ټکر وخوري دلته دا حرف ادا کیږي (ق) .

۶مخرج : د قاف مخرج ته نژدې لږ کښته د خولې خوا ته دلته (ک) ادا کیږي .

او دې دواړو حروفو ته لهاتیه وایي ، لهات (حلقی ژبی) .

(د غاښو پېژندل ، او ژبه)

د یو عاقل انسان په خوله کي ۳۲ غاښونه موجود دي چي نومونه یې په داسي ډول دي ، **ثنایا** ، **رباعیا** ، **ناب** ، **اضراس** ، **ضواحک** ، **طواحن** ، **نواجذ** (ناجذ) غاښونه ثنایا ۴ غاښه دي ، رباعیات هم ۴ غاښه دي ، انیاب هم ۴ غاښه دي .

اضراس ۲۰ غاښه دي ، چي په هغه کي ضواحک ۴ غاښه دي ، او طواحن په کښي ۱۲ داني دي ، او ناجذ هم ۴ دي .

ژبه:-پر ۶ ځایه وېشل شوې ده، ۱:- د ژبي سر ۲:- د ژبي طرف ۳:- د ژبي حافه ۴:- د ژبي مابینځ ۵:- د ژبي شاه ۶:- د ژبي پای .





(اووم ، او اتم مخارج)

۷مخرج: د ج ، ش ، ی ، دی هر کله چي د ژبي مینځ مقابل تالو ته پورته سي دلته دا حروف اداکیږي ، هغه یا (ی)چي مده نه وي ، او دې حروفو ته حروفي شجریه وایي ځکه د غه حروف د شجر الـسان (وسط الـسان) څخه ادا کیږي .

۸مخرج: د (ض) دی ، هر کله چي د ژبي حافه د اضراس علیاء د غاښو د بیخو سره ولگیږی ، د لته د (ض) حرف ادا کیږي .

د را سته طرف څخه یې اداکول آسانه دی ، نوموړی حرف ځني خلګ په د یا ظ سره وایي چي دا ډول ویل یې نه دي صحیح .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نهم ، لسم ، او یوولسم مخارج)

۹مخرج: هر کله چي د ژبي طرف سره د یو څه حصې د حافې ، د ثنایا ، رباعیا ، ناب ، او ضواحکو د وریو سره مائل ټکر وخوري د لته د لام حرف ادا کیږي ، که راسته طـرف وي کـه چپـه .

۱۰مخرج : د ن (النون) دی دا هم له طرف الـسان څخـه ادا کـیږي ، مـګـر د لـتـه ضـواحـک غـا ښـونـه نـه دي شـامـل .

۱۱مخرج : د را (الرا) دی نژدې د نون مخرج ته مګر دلته درژبي شـا هم داخله ده ، دې ۳ حـروفو ته طرفیه او ذلقیة وایي .

(دوولسم ، دیارلسم ، او څوارلسم مخارج)

۱۲مخرج:هر کله چي د ژبي سر د ثنایاعلیا د غاښو د وریو د بیخو سره ټکر وخوري دلته (ط، د، ت) اداکیږي ، او دې حروفو ته نطعیة وایي.

۱۳مخرج:هر کله چي دژبي سر د ثنایاعلیا د غاښو د سرو سره ټکرو خوري دلته(ظ، ذ، ث) ادا کیږي، دې حروفو ته لثویة وایي.

۱۴مخرج:د ژبي سر د ثنایا سفلیٰ سرونه د یو څه نژدېوالي د ثنایاعلیا دلته(ص، ز، س)ادا کیږي دې حروفو ته حروفي صفیریة وایي.

(پنځلسم ، شپاړلسم ، او اوولسم مخارج)

۱۵مخرج: هـر کـلـه چـي د لانـدي شـونـډي نـس د ثـنـایا عـلـیـا د غاښو د سرو سره ټـکـر وخـوري د لـتـه (ف) ادا کـیږي .

۱۶مخرج:د دواړو شونډو دی دلته (ب-م-و) ادا کیږي، (ب) د شونډانو د لندې حصېڅخه ادا کیږي،له دې سببه ورته بحري ویل کیږي.

(م)د شونډانو د وچي حصې څخه ادا کیږي ، له دې سبـبـه ورتـه بـري ویل کیږي ، او (واو) د شونډانـو د نـاتمام یو ځای کېدو څخه ادا کیږي ، دې درې حروفو ته شفوي حروف وایي ، یعني د شونډانو څخه ادا کیږي .

۱۷مخرج: د خیـشوم (د پزي نرمۍ) دی د لته غنـه ادا کیږي ، حروف يې نّ او مّ دي چـي انشاالله مخکي بـه راسي .

(د حرفو د مخارجو د ادا نقشه)



(c) ketabton.com: The Digital Library



(د صفت تعريف ، ډولونه ، تعداد)

صفت: په لغات کي وايي (مَاقَامَ بَالشَّيْئِ) چي درېدل وکي پر يو بل شي ، پـه اصطلاح کـي صـفـت يو داسي کيفيت (ډول) دی چي کله حرف راوزي د مخرج څخـه نـو دا صـفـت ور وړانــدي کـــيږي .

صفات پر ۲ ډوله دی ، ۱:- **صفات ذاتية** ۲:- **صفات عارضيه** ، **۱ صفات ذاتيه**: هـغـه صفتونه دي چـي د حرف څخه يې ايسته کړې ، د حرف ذات به ختم سي لکه:- ظ په ز ويل ، **۲ صفات عاريضه** :- هغه صفات دي چي حروفو ته ښايست ور په برخه کوي .

صفات لازمه ۱۷ دي ، ۱۰ ضد لرونکي ، او ۷ بې ضده (غيرمتضاده) ، تضاد بالمقابل دی ، لـکـه هـمـس ضد يې جهر دی .

(په حرف کي د صفاتو شمېر ، په حرف کي د صفاتو معلومول)

په يو حرف کي د ۵ صفاتو څخه کم نه راځي او د ۷ صفاتو څخه زيات نه راځي .
د صفاتو د معلومولو طريقه دا ده چي د صفت مجموعې ته وګورو ، که چيري په هغه مجموعه کي هغه حرف موجود نه وو . پـه ضـد کـي يې ګورو انشاالله هلته به موجود وي ، لـکه د (ز) حرف پـه همس کي نسته مګر په جهر کي بيا مـوجود ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د صفاتو نقشه)



(هـمـــس)

همس:- په لغات كي كراروالي تـه وايي ، په اصطلاح په كومو حروفو كي چي دا صفت پيداسي هغو ته مهموسه حروف وايي.

مطلب:- د دې حروفو د ادا په وخت كي آواز په خپل مخرج كي په داسي كمزورئ سره و دريږي ، چي ساه جاري وي ،او په آواز كي يوقسم كښتوالى (نرموالى) وي ، دا صفت صرف په (۱۰) حروفو كي دى ، مجموعه يې (فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتَ) ده . د دې مجـــموعـــې مـــعنٰى ده(هـغـه شوک غوره کړئ ، چي چو پتيا يې غوره كړې وي) .

(جـهـــر)

جهر:- په لغات كي لوړوالي ته وايي ، په اصطلاح كي په كومو حروفو كي چي داصفت پيداسي هغو ته مجهوره حروف وايي.

مطلب:-د دې حروفو د ادا په وخت كي آواز په خپل مخرج كي په داسي قوت سره و دريږي، چي ساه جاري كېدل بند سي او په آواز كي يـو قـسـم ، لوړوالـى وي ، د مـهـمـوسـؤ شـخـه مـاسـېوا نـور ټـول مـجـهوره دي ، (جهر ، دهمس ، ضد دى) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(شـــدت)

شدت: په لغات کې سختوالي ته وايي ، پـه اصطلاح کې پـه کومو حروفو کې چې دا صفت پیداسي هغو ته شدیده حروف وایي.

مطلب:- د دې حروفو د ادا په وخت کې آواز په خپل مخرج کې په داسي قوت سره و دریږي، چې آواز بندسي ، او په آواز کې یو قسم سختي وي ، دا صفت صرف په ۸ حروفو کې دی ، چې مجموعه یې دا ده (اَجِدُکَ قَطَبْتَ) .

(رخــوت)

رخوت:-په لغات کې نرموالي ته وايي ، په اصطلاح کې په کومو حروفو کې چې دا صفت پیداسي هغو تـه رخـوة حـروف وایـي .

مطلب:- د دې حـروفـو د ادا پـه وخت کې آواز په خپل مخرج کې په داسي کمزورئ سره و دریږي ، چې آواز جاري وي ، او په آواز کې یو قسم نرمي وي، د شدیده او متوسطه حروفو څخه ماسېوا نور ټول حروف رخوة دي(شدت، او رخوت سره ضد دي).

(توســط)

توسط:- په لغات کې مابینځ ته وايي ، په اصطلاح کې په کومو حروفو کې چې دا صفت پیداسي هغو ته متوسطه حروف وایي.

مطلب:- د دې حروفو د ادا په وخت کې آواز نه پوره بندوي ، او نه پوره جاري وي ، دا صرف په ۵ حروفو کې سته(لِنْ عُمَرُ).

او توسط صفت نه شمېرل کیږي ، ځکه پـه ده کې یو څه شدت ، او یو څه رخوت دی، د مجموعې معنٰی ده(نرم سه اې عمره).

یادونه :- توسط د شدت ، او رخـوت تر مینځ مـا بینځي حالت دی ، که چیري یو صفت یې و شمېرو نو صفات بـیا ۱۸ کـیـږي .

(استعــلاء ، او د هغه مرتبې)

استعلاء:په لغات کې لوړوالي ته وايي،په اصطلاح کې په کومو حروفو کې چې داصفت پیداسي هغو حروفو ته حروفي مستعلیة وایي.

مطلب :د دې حروفو د ادا په وخت کې همېشـه د ژبې پای لوړ تالو ته پورته کیږي ، د لـوړېدو په سـبب دغـه حـروف ډک ویـل کیږي ، دا حروف صرف ۷ دي ، چې مجموعه یې (خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ) ده معنٰی یې داده (ځان بیداره که قبر ځائ د تنګی دی) .

د استعلاء پنځه مرتبې دي :-

۱- استعلاء اعلیٰ : که چیري د استعلاء تـــوری مفتـــوح وي او وروستـــه یې الف راغلئ وي ، لکه (قَالَ ، غَاسِقٍ) .

۲- استعلاء عالي : که چیري د استـــعـــلاء تـوری مفتـــوح وي او وروستـه یـې الـف نـه وي راغلئ ، لکه (خَلَــقَ) .

۳- استعلاء اوســـــط (منـځنی) : کـــه چیـــري د استـعــلاء تـــوری مضــمــوم وي ، لـکــه (یَدْخُلُونَ) .

۴- استعلاء وسطیٰ : که چیـري د استعلاء توري ساکن وي او ماقبل یې فتحه یا ضمه ولـري ، لکـه (اَطْعَمَهُمْ ، اُقْسِمُ) .

۵- استعلاءادنٰی: که چیري د استعلاء توری مکسوروي یاپه خپله ساکن وي او ماقبل یې مکسوروي، لکه (صِرَاطَ،اِطْعم) .

(استـفـال)

استفال:-په لغات کې کښتوالي ته وایي په اصطلاح کې په کومو حروفو کې چې داصفت پیداسي هغو حروفو ته حروفي مستفلة وایي.

مطلب :- د دې حروفـو د ادا پـــه وخـت کـښـې د ژبې پـای لـوړ تـالـوتـه نـه پـورتـه کـیـږي ، لـه همدې سببه دغـه حروف باریک ویـل کـیـږي ، د حروفي مستعلیة څخه ماسېوا نور ټول حروفي مستفلة دي ، او دواړه صفتونه یو لـه بل سـره ضـد دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اطبـاق)

اطباق:- په لغات کي چسپېدلو ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي هغو حروفو ته مطبقة وايي .

مطلب:- د دې حروفو د ادا په وخت کي د ژبي مابينځ لوړ تالوته پورته کيږي ، داحروف ۴دي (ص ، ض ، ط ، ظ) .

(انفتـاح)

انفتاح:-په لغات کي خلاصوالي ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي داصفت پيداسي هغو حروفو ته منفتحة وايي .

مطلب:-د دې حروفو د ادا په وخت کي دژبي مابينځ لوړ تالو ته نه پورته کيږي ، د مطبقة څخه ماسېوا نور ټول حروف منفتحة دي.

(اذلاق)

اذلاق:- په لغات کي طرف ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي ، هغو حروفو ته حروفي مذلقة وايي .

مطلب:- دا حروف د ژبي او شونډانو له طرف څخه ډېر ژر او په اسانۍ سره ادا کيږي ، چي مجموعه يې ده ، (فَرَّمِنْ لُبِ) .

(اصمات)

اصمات:-په لغات کي سختۍ ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي هغو ته مصمته وايي .

مطلب:- دا حروف د خپل مخرج څخه ډېر په سختۍ سره ادا کيږي ،ژر او په اسانۍ سره نه اداکيږي ، د مذلقة څخه ماسېوا نور ټول حروفي مصمته دي ، او دوئ دواړه سره ضد دي .

يادونه:- نوموړي ١٠ صفتونه يو له بل سره متضاده وه ، راتلونکي صفتونه ، غير متضاده دي .

(صَفِيـر)

صفير: په لغات کي شپېلکي ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي هغو ته صفيريه وايي .

مطلب: د دې حروفو د ادا په وخت کي يوتيز آواز د شپېلکي په شان راوزي ، داسي حروف ۳ دي (ص ، ز ، س) .

(قلقلـه)

قلقله:-په لغات کي(شورېدنه ، خوځښت) ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي هغو ته لقلقه وايي .

مطلب:د دې حروفو د ادا په وخت کي ، د سکون په حالت کي په مخرج کي حرکت پيدا کيږي ، داسي حروف ۵ دي ، (قُطْبُ جَدٍ).

(د قلقلې ډولونه او مرتبې)

د قلقلې ۲ (ډولونه)دي :

۱ قلقله کبرای (لويه قلقله) : که چيري د قلقلې توری د کلمې په آخر کي راسي او وقف ور باندي وسي ، لکه (حَسَدْ ، اَحَدْ) .

حرف ق:(**وعلى** كل ضامر يأتين من كل فج عميق) **حرف** ط:(**والله** من ورائهم محيط) حرف ب:(**فصب** عليهم ربك سوط عذاب)

حرف ج: (**والسماء ذات البروج**) حرف د:(قتل **أصحاب الأخدود**)

۲قلقله صُغرا (کوچنی قلقله) :- که چيري د قلقې توری ساکن وي د کلمې په مينځ کي راسي او وقف ور باندي ونه سي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو صُغرا قلقله پرکیږي . لکه :- (يَطْمَعُوْنَ ، خَلَقْنا) .

حرف ق:-(إِقْترب للناس حسابهم) حرف ط:-(والذين آمنوا وتطْمئن قلوبهم لذكر الله) .

حرف ب:-(وإذ يرفع إِبْراهيم القواعد من البيت) .

حرف ج:-(لو شئت لاتخذت عليه أجْرا) حرف د:- (قل إن ادْري أقريب ما توعدون أم يجْعل له ربي أمدا) .

او قلقله ۵ مرتبې لري :-

۱- قلقله اعلیٰ (ډېره لوړه قلقله) : كه چیري د قلقلې توری مشدد وي د کلمې په اٌخر کي راسي او وقف هم وربانـدي وسي .

نو اعلیٰ قلقله پرکیږي . لکه : (وَتَبّ ، بِالحَقّ ، اَلْحَجّ ، اَلْحَقّ) .

۲- قلقله عالي (لوړه قلقله) : كه چیري د قلقلې توری مشدد وي د کلمې په اٌخر کي راسي مگر وصل ور باندي وسي ، نو د لته قلقله عالي کيږي ، لكه (بِالْحَقِ وَتَوَاصَوْ ، وَّتَبَّ مَآاَغْنٰى) .

۳- قلقله وسطیٰ (ميانه قلقله) : كه چیري د قلقلې توری ساكن وي د کلمې په اٌخر کي راسي او وقف ور باندي وسي .

نو وسطیٰ قلقله پر کیږی ، لكه (لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ) .

۴- قلقله اوسط : دا هغه قلقله ده چي د قلقلې توری ساكن او د کلمې په منځ کي وي ، لكه (لَقَدْخَلَقْنَا) .

۵- قلقله ادنیٰ : هغه قلقله ده چي د وصل په حالت كښي د قلقلې توری متحرك (خوځنده) وي ،لكه (قُلْ).

(لیــن)

لیـن:- په لغات کي نرمي ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پیداسي هغو ته لینیة وايي .

مطلب :-د دې حروفود ادا په وخت کي حرف په خپل مخرج کي په نرمۍ سره اداکيږي ، داسي حروف ۲ دي(واو لين، ياء لين).

(اِنحِرَاف)

اِنحِرَاف:- په لغات کي کوږوالي ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پیداسي هغو ته منحرفه وايي .

داسي حروف ۲ دي (ل ، ر) .

مطلب:-د دې حروفو د ادا په وخت کي په لام کي د ژبي د طرف خواته، او په را کي د ژبي د شاه خوا ته مېلان(كوږوالۍ)کيږي.

(تکریـر)

تکریر:- په لغات کي تكرار ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پیداسي هغو تـه تكريرية وايي .

مطلب:- دا صفت يوازي په (را) کي دی ، د (را) د ادا کېدو په وخت کي په ژبه کي لړزه (رپېدل) وي ، په داسي ډول چي را تكرار نه سي ، يعني مشابهت د تكرار وي او حقيقت د تكرار (عين تكرار)نه وي ، (عين تكرار خولحن جلي دی ، او د لحن جلي څخه ځان ساتل پکار دي) .

ستاسو وروراحمدياسير ددعأ په اميد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(تفشـِـي)

تفشي:- په لغات کي شيندل ، پاشل ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي هغو تـه متـفشي وايي .

مطلب:- دا صفت يوازي په شين (ش)کي دی ، او د شين د ادا کيـدو پـه وخـت کـي آواز دننـه پـه خـوله کي پاشل کـيـږي .

(استطالـت)

استطالت: په لغات کي اوږدوالي ته وايي ، په اصطلاح کي په کومو حروفو کي چي دا صفت پيداسي هغو ته مستطيلة وايي .

مطلب:- دا صفت يوازي په ضاد (ض)کي دی ، د ادا په وخت کي د ژبي د حافې د اول څخه تر آخره پـوري آواز جـاري وي . نو د مخرج د اوږدوالي په سبب آواز هم اوږ ديږي . يادونه: صفات ذاتية يعني (۱۷)صفات مکمل خلاص سوه .

(د صفت د معلومولو طريقه)

که غواړی چي په يوحرف کي يوصفت معلوم کړئ ، نو د هغه صفت د حروفو مجموعې ته وګوره ، کـه چيري هغه حـرف پـه کښـي کـي ؤ خـوښـه تـر ښـه ، او کـه نـه ؤ ، نـو پـه ضد کـي يـې هتماً ستــه انشاالله .

(صفات د کيفيت په لحاظ)

۱- قوي صفات: قوي صفات (۱۰) دي ، چي له (جهر ، شدت ، استعلاء ، اطباق ، قلقله ، صفير ، انحراف ، تکرير ، تفشي ، او- استطالت) څخه عبارت دي .

۲- ضعيف صفات:- ضعيف صفات (۵) دي ، چي له (همس ، رخوت ، استفال ، انفتاح ، او لين) څخه عبـارت دي .

۳- متوسط صفات:- مـتوسط صفـــات (۳) دي ، چـي لـه (تـوسط ، اذلاق ، او اصمـــات) څخـه عـبارت دي .

(حروف د مرتبو په لحاظ)

۱-اقواحروف:هغه حروف دي چي ټول صفات د قوت په کښي کي وي ، که يو صفت د ضعف په کښي وي هغه مشکل نه لري.

اقواحروف :- ۴ دي ، ۱-ض ۲-ط ۳-ظ ۴-ق .

۲-قوي حروف:- هغه حروف دي چـي ډېـر صفات د قـوت پـه کښي کي وي ، او لـږ صفات د ضـعـف وي .

قوي حروف :- ۶ دي ، ۱-ج، ۲-د، ۳-ص ۴-ع ۵-غ ۶-ء .

۳-متوسط حروف:- هغه حروف دي چي نيم صفتونه د قوت ، او نيم صفتونه د ضعف په کښي کي وي .

متوسط حروف :- ۴ دي ، ۱-ب ۲-ر ۳-ز ۴-ل ، مجموعه يې (بر لز) ده .

۴-ضعيف حروف:- هغه حروف دي چي ډېر صفتونه د ضعف ، او لـږ صـفـتـونـه د قوت په کښي کي وي .

ضعيف حروف:- ۱۲ دي ، ۱-الف ۲-ت ۳- خ ۴-ذ ۵-س ۶-ش ۷-ک ۸-م ۹-ن ۱۰-و ۱۱-ی .

۵-اضعف حروف:- هـغـه حروف دي چـي ټـول صفـتـونـه د ضـعـف پـــه کـښـي کــــي وي .

اضعف حروف:- ۳ دي ، ۱-هـ ۲-ف ۳-ح ۴- ث مجموعـه يـې (فحثه) ده .

يادونه:- صـفـات لازمـه پـای تـه ورسېـده ، راتـلونکئ بـحـث پـر صفاتو عاريضه بـانـدي دی انشاالله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د ۲۹ حروفو د مخارجو او صفاتو اجراء)

شمیره	حروف	مخــــارج	نومونه	تعداد	صفات لازمــــــه متضاده					صفات لازمه غیر متضاده	مرتبه
۱	ا	د جوف دهن ځخه ادا کیږي .	مــده	۵	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	.	ضعیف
۲	ب	د شونډانو دلندي حصي ځخه ادا کیږي .	بحري	۶	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اذلاق	قـلـقـلـه	متوسط
۳	ت	د ژبي د سر او ثنایا علیا د بیخ ځخه ادا کیږي .	نطعیه	۵	همس	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	.	ضعیف
۴	ث	د ژبي دسر او ثنایا علیا د کنارو ځخه ادا کیږي .	لثویه	۵	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	.	ضعیف
۵	ج	د ژبي له مینځ ځخه ادا کیږي .	شجریه	۶	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	قـلـقـلـه	قوي
۶	ح	د وسط حلق ځخه ادا کیږي .	حلقي	۵	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	.	اضعف
۷	خ	د ادنی حلق ځخه ادا کیږی .	حلقي	۵	همس	رخوت	استعلاء	انفتاح	اصمات	.	ضعیف
۸	د	د ژبي دسر او د ثنایا علیا د بیخ ځخه ادا کیږي .	نطعیه	۶	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	قـلـقـلـه	قوي
۹	ذ	د ژبي د سراو ثنایا علیا د کنارو ځخه ادا کیږي .	لثویه	۵	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	.	ضعیف
۱۰	ر	دژبي طرف دثنایا، رباعی ،ناب دوریوسره ولګیږي.	طرفیه	۷	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق	انحراف ، تکریر	متوسط
۱۱	ز	د ژبي د سر او ثنایا سفلی د ځو کو ځخه اداکیږي.	صفیریه	۶	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	صفیر	متوسط
۱۲	س	د ژبي د سر او ثنایا سفلی د ځوکو ځخه ادا کیږي.	صفیریه	۶	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	صفیر	ضعیف
۱۳	ش	د ژبي د مینځ ځخه ادا کیږي .	شجریه	۶	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	تفشي	ضعیف
۱۴	ص	د ژبي د سر او ثنای اسفلی د ځوکو ځخه اداکیږي.	صفیریه	۶	همس	رخوت	استعلاء	اطباق	اصمات	صفیر	قوي
۱۵	ض	د ژبي بغل چي د لوړي زامي د غاښو سره و	حافیه	۶	جهر	رخوت	استعلاء	اطباق	اصمات	استطالت	اقوا
۱۶	ط	د ژبي د سر او ثنایا علیا دبیخ ځخه ادا کیږي .	نطعیه	۶	جهر	شدت	استعلاء	اطباق	اصمات	قـلـقـلـه	اقوا
۱۷	ظ	د ژبي د سر او ثنایا علیا دکناروځخه ادا کیږي .	لثویه	۵	جهر	رخوت	استعلاء	اطباق	اصمات	.	اقوا
۱۸	ع	د وسط حلق ځخه ادا کیږي .	حلقي	۵	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اصمات	.	قوي
۱۹	غ	د ادنی حلق حخه ادا کیږي .	حلقي	۵	جهر	رخوت	استعلاء	انفتاح	اصمات	.	قوي
۲۰	ف	د ثنایاعلیا دځوکو او لاندی شونډي دنس ځخه	شفوی	۵	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اذلاق	.	اضعف
۲۱	ق	د ژبي بیخ چي هر کله د لوړتالو سره و لګیږی .	لهاتیه	۶	جهر	شدت	استعلاء	انفتاح	اصمات	قـلـقـلـه	اقوا
۲۲	ک	د قاف د مخرج ځخه لږ د خولي وخواته ادا کیږي	لهاتیه	۵	همس	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	.	ضعیف
۲۳	ل	د ژبي طرف د ثنایا ، رباعي، ناب،او ضواحکو دوریوسره چي ولګیږي.	طرفیه	۶	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق	انحراف	متوسط
۲۴	م	د شونډانو د وچي حصي ځخه ادا کیږي .	بری	۶	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق	غنه	ضعیف
۲۵	ن	د ژبي طرف د ثنایا ، رباعي ، ناب د وریوسره چي	طرفیه	۶	جهر	توسط	استفال	انفتاح	اذلاق	غنه	ضعیف
۲۶	و	د دواړو شونډانو د پوره ګول والي ځخه ادا کیږي.	شفوی	۶	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	لین	ضعیف
۲۷	ه	د اقصی حلق ځخه ادا کیږي .	حلقي	۵	همس	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	.	اضعف
۲۸	ء	د اقصی حلق ځخه ادا کیږي .	حلقي	۵	جهر	شدت	استفال	انفتاح	اصمات	.	قوي
۲۹	ي	د ژبي د مینځ ځخه ادا کیږي.	شجریه	۶	جهر	رخوت	استفال	انفتاح	اصمات	لین	ضعیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(صفات عاريضه)

صفات عاريضه: هغه صفات دي چي ځني وخت په حرف کي موجود وي ، او ځني وخت په حرف کي موجود نه وي .

صفات عاريضه:- په ۸ حوروفو کي شامل دي ، چي مجموعه يې (لَرْمَن أوي) ده ، او د اجمال له مخي په ۱۳ډوله دي.

تفخيم	ترقيق	حرکت	سکون	مدفرعي	صـلـه	ادغام
اقلاب	اخفاء	غنه زماني	تسهيل	ابدال	حـــــذف	

د صفات عاريضه او صفات لازمه په مابينځ کي ۳ مشهور فرقونه سته :-

۱فرق: دصفات لازمه غلطي په لحن جلي کي داخله ده ، او د صفات عاريضه غلطي په لحن خفي کي داخله ده .

۲فرق: د صفات لازمه پيداکيدل پر يوسبب د اسبابو باندي موقوفه نه وي ، او د صفات عاريضه پيداکيدل پر يوه نه يوه سبب باندي موقوفه وي .

۳فرق: صفات لازمه په ټولو حروفو کي پيداکيږي ، او صفات عاريضه په ځينو حروفو کي وي او په ځينو حروفو کي نه وي .

(تفخيم او ترقيق)

د تفخيم معنٰى ډک ويل ، او ترقيق معنٰى تش (باريک) ويل دي ، تفخيم پر ۲ ډوله دی ، ۱:-قسم تفخيم مستقيل او اصلي دی ، لکه تفخيم د حروفِ مستعليه ؤ او ، ۲:- قسم تفخيم غير مستقيل او عاريضي دی ، لکه د را او د لفظ د الله ، اول قسم تفخيم پر حرکت باندي موقوفه نه دی، او دوهم قسم تفخيم پر حرکاتو باندي موقوفه دی، لکه راچي زور يا پيښ ولري ډکه ويل کيږي .

(شبه مستعليه)

شبه مستعليه حروف عبارت دي له(لام ، را ، الف) څخه ، سره له دې چي دغه حروف مستعليه حروف نه دي خو په بعضي حالاتو کي دا حروف ډک لوستل کيږي، د مستعليه حروفو او دغه درې حروفو تر منځ فرق دادی ، چي حروفِ مستعليه همیشه ډک لوستل کيږي ، که مضموم ، مفتوح ، مکسور ، ساکن په هر حال کي دغه حروف ډک لوستل کيږي ، او شبه مستعليه حروف کله ډک ، او کله تش ويل کيږي ، نو دغه ۳ حروف دمستعليه حروفو سره مشابه دي .

(د نون ساکن او تنوين تعريف)

وړغندی لرونکی (ساکن) نون او تنوين:-

دساکن نون تعريف:- هغه نون ته وايي چي حرکت يعني زور ، زېر او پېښ ونه لري د اسم ، فعل ، او حرف په طرف او منځ کي راځي لکه :- (إِنَّآ أَنذَرۡنَٰكُمۡ ، وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ) .

وړغندی لرونکۍ نون د اصلي کلمې جز هم راځي لکه (اَنْعَمَ) او زائد هم راځي لکه (فَانْفَلَقَ) چي اصل يې يوازي (فلق) دی د (فعل) پر وزن باندي .

دتنوين تعريف: هغه ساکن نون ته وايي چي يواځي د اسم په آخر کي په تلفظ کښي راځي مګر د وقف په حالت کي لمنځه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپه لیك كښي تنوین په دغه علامو (-ً -ٍ -ٌ) سره پېژندل كيږي ، لكه : (خَلَقْتَ طِينًا ، وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) .

(په وقف كي د تنوین حكم)

په وقف كي د تنوین حكم : تنوین د وقف پر مهال درې حالتونه لري :-

لومړی داچي : تنوین په دوو زورو وي په نوموړي حالت كي تنوین په الف سره بدليږي .

دوهم داچي : د پېښ يا د زېر تنوين د وقف په حال كي راسي نوموړي تنوينونه حذفيږي .

دريم داچي : تنوين پر مد وره ګردئ تا راسي د وقف په حال كي په هاء سره بدليږي .

(د ساكن نون او تنوين حكمونه)

د ساكن نون او تنوين لاندیني څلور حكمونه دي :

۱-ادغام **۲-اظهار** **۳-اقلاب** **۴-اخفاء**

۱-ادغام :ادغام په لغت كښي پټولو ته وايي او په اصطلاح كښي د يوه توري پټول دي په بل توري كښي چي اول ساكن او دوهم متحرك وي چي د دواړو څخه يو شد لرونكئ توری جوړسي اول توري ته يې مدغم او دوهم توري ته يې مدغم فيهِ ويل كيږي .

د ادغام توري :- د ادغام توري شپږ دي چي د (يَرْ مَلُوْ ن) په لفظ كښي جمع سوي دي ، تر ساكن نون يا تنوين وروسته چي د (يَرْ مَلُوْ ن) له تورو څخه يو راسي هلته ادغام كيږي لكه : (مَن يُؤْمِنُ ، مِن وَاقٍ ، هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ) .

د ادغام ډولونه

ادغام پر دوه ډوله دئ چي د لاندنيو ډولونو څخه عبارت دي:-

۱.ادغام دغني سره **۲.ادغام بېله غني**

ادغام سره دغني :كه چيري تر ساكن نون ياتنوين وروسته د (يَرْ مَلُوْن) له تورو څخه پاته څلور توري (ي ، م ، ن ، و) راسي چي ورته (يَمْنُوْ) وايي هلته ادغام مع الغنه كيږي چي دې ادغام ته ناقص ادغام هم ويل كيږي .

يادونه :- د غنې تريف ، او اقسام به انشاالله مخكي راسي .

د ادغام حرف	د نون مثال	د تنوين مثال
		د هغه ادغام مثالونه چي بېله غنې وي
الياء	(وَمَن يُطِعِ)	(وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ)
النون	(لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا)	(اَمْشَاجٍ نبْتَلِيْهِ)
الميم	(مِن مَّآءٍ دَافِقٍ)	(صُحُفًا مُّطَهَّرَةً)
الواو	(مِن وَالٍ)	(وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېله غنې ادغام: که چېرې تر ساکن نون یا تنوین وروسته د (یَرْ مَلُوْن) له تورو څخه (لام یا راء) راغلې وي چې ورته (لر) وایې هلته ادغام بلا غنه کېږي دې ادغام ته تام ادغام هم ویل کیږي .

د هغه ادغام مثالونه چې د غنې سره نه وي		
د ادغام حرف	د نون مثال	د تنوین مثال
اللام	(أَن لَّن تَقُولَ)	(مَالاً لُّبَدًا)
الراء	(مِن رَّسُولٍ)	(عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ)

(د ادغام سببونه)

د ادغام سببونه : ادغام په عمومي توګه درې سببونه لري چې د لاندې سببونو څخه عبارت دي :

۱-ادغام مثلین **۲-ادغام متجانسین** **۳-ادغام متقاربین.**

۱-ادغام مثلین : هغه ادغام ته ویل کیږي چې دوه هم ډوله حروف یو په بل کې مدغم سي : لکه (اذْهَب بِّكِتَابِي) .

۲-ادغام متجانسین: هغه ادغام تـه ویـل کیږي چـې د یـوه مخرج حـروف یـو پـه بـل کـې مـدغـم سي (اذ ظَّلَمو) .

۳-ادغام متقاربین : هغه ادغام ته ویل کیږي چـې پـه مخرج او صفت دواړو کي سره نژدې وي لـکـه(من فوقکم) .

د دا خلولو په اعتبار سره ادغام پر دوه قسمه دی:- **۱-ادغام صغیر ۲-ادغام کبیر .**

۱-ادغام صغیر : هغه ادغام ته ویل کیږي چې ساکن حرف په متحرک حرف کې داخل سي ، لـکـه (اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُونَ) .

۲-ادغام کبیر : هغه ادغام ته ویل کیږي چې مدغم اومـدغـم فیه دواړه حـروف مـتـحـرک وي ، لکـه (أ تُحَجُّونّي) .

د اداکېدو او جوړښت (کیفیت) په اعتبار سره ادغام پر دوه قسمه دی:- ۱-ادغام تام ۲-ادغام ناقص .

۱-ادغام تام: هغه ادغام ته ویل کیږي چې د مدغم حرف هېڅ یو صفت باقي پاته نسي ، لکه (مِنْ لَّدُنْهُ ، مِنْ رَّبِّهِمْ) .

۲-ادغام ناقص: هـغـه ادغـام تـه ویـل کیږي چـې د مـدغـم حـرف یـو صـفـت بـاقـي پـاتـه سـي ، لـکـه (مِنْ وَّالٍ) .

د ادغام ګټه : د ادغام ګټه سپکوالی دئ ځکه چې د دوو حرفونو څخه په یوه مشدد حرف باندي تلفظ کیږي .

یادونه:په قرآن عظیم الشان کښې اووه ځایونه داسې راغلي دي چې تر نون ساکن وروسته د(یَرْ مَلُوْن)توری راغلئ دی مګر ادغام ندی پرسوئ هغه اووه ځـایه له (صِنْوَانٌ ، قِنْوَانٌ ، بُنْيَنٌ ، ٱلدُّنْيَا ، يسٓ ۝ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ، نٓ وَٱلْقَلَمِ ، كَلَّا بَلْ رَانَ) څخه عـبـارت دي.

په لومړیو څلورو کلمو کښې چې له (صِنْوَانٌ ، قِنْوَانٌ ، بُنْيَنٌ ، ٱلدُّنْيَا) څخه عبارت دي ځکه ادغام ونـسـو کـه ادغـام وسي بیا التباس د مضاعف سره راځي یعني تر ادغام وروسته نه معلومیږي چې دوې(یاء) ګاني یا دوه (واو) د اصلي کلمې څخه دي او که په قاعده د یرملون ادغام سوی دئ، یا په بل عبارت که چېرې نون ساکن او د (یَرْ مَلُوْنْ) توري په یوه کلمه کښې راسي هـلـتـه نو ادغام نه کیږي بلکه اظهار واجب دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په پنځمه او شپږ مه کلمه کښي چي له ﴿ يسٓ ۝ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ، نٓ ۚ وَٱلۡقَلَمِ ﴾ څخه عبارت دي ځکه ادغام ونسو چي دا مقطعات توري دي په پريکوڼ سره ويل کيږي او د حروفو مقطعات تر ادغام وروسته پريکوڼ له منځه ځي په داسي حال کښي چي ادغام يو ځايوالي ته اړتيا لري چي قاعده د (يَرْ مَلُوْن) يې غواړي نو ځکه ادغام نـه کـوو ، او په آخره يعني په اومه کلمه کښي چي د ﴿كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ﴾ څخه عبارت ده ځـکـه ادغام ونـه سو چي دلته سکته کيږي دسکتې له سببه يوځای والي پاته نه سـو .

(اظـــهـــار)

۲-اظهار : اظهـار په لغت کښي ښـکـاره کـولـو تـه وايـي او پـه اصطلاح کښي د دوو تورو جلاکول دي په داسي ډول سـره چي هـر تـورى بـېـل او ښـکـاره و لـوستـل سـي .

داظهارتوري :- شپږ دي نوموړو تورو ته حلقية توري هم وايي چـي د (همزة ، هاء ، حاء ، خاء ، عين ، غين) څخه عـبـارت دي .

تر ساکن نون يـا تنوين وروسته چـي د حروف حلقيوو څخه يو حرف راسي هلتـه اظـهـار کـيږي پـوره مـثـالـونـه يې پـه لاندي جدول کي مطالعه کړئ :

د اظـــهـــار مـثـالـونـــه			
د اظهار توري	نون په يوه کلمه کي وي	نون په دوو کلمو کي وي	د تنوين مثالونه
الهمزة	(وَيَنْئَوْنَ)	(مَنْ اَعْطي)	(كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ)
الهاء	(وَهُمْ يَنْهَوْنَ)	(مَنْ هَاجَرَ)	(جُرُفٍ هَارٍ)
العين	(وَالانْعَام)	(مِنْ عَلَق)	(وَٰسِعٌ عَلِيمٌ)
الحاء	(يَنْحِتُوْنَ)	(مَنْ حَادَ الله)	(عَزِيزٌ حَكِيمٌ)
الغين	(فَسَيُنْغَضُوْنَ)	(مِنْ غِسْلِين)	(قَوْلاً غَيْرَ)
الخاء	(وَالْمُنْخَنِقَةُ)	(مِنْ خشي)	(لَطِيفٌ خَبِيرٌ)

(داظهار لامل او مرتبې)

د اظهار لامل :- څرنګه چي نون او تنوين د ژبي د طرف څخه ادا کيږي او د حلق توري د حلق څخه ادا کيږي چي تر منځ يې نه تقارب اونه تجانس سته چي له امله يې ادغام رامنځته سي په پايله کي بله لاره نسته پرته له دې چي اظهار وکړي.

د اظهار مرتبې: اظهار لاندينۍ درې مرتبې لري :

۱.عالي **۲.متوسط** **۳.ادنی**

عالي اظهـار: هغه وخت کيږي چي تر ساکن نون او تنوين وروسته همزة او هاء راغلې وي .

متوسط اظهار: هغه وخت کيږي چي تر ساکن نون او تنوين وروسته عين او حاء راغلي وي .

ادنی اظــهـار: هغه وخت کيږي چي تر ساکن نون او تنوين وروسته غين او خاء راغلې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اقــــلاب)

۳-اقلاب:-اقلاب په لغت کښي اړولو ته وايي او په اصطلاح کښي د ساکن نون يا تنوين بدلول دي په ساکن ميم سره چي غنه هم پر وسي البته اقلاب هغه وخت کيږي چي تر ساکن نون او تنوين وروسته (باء) راغـلـې وي پاته دي نه وي چي د اقلاب توری يوازي همدغه بـأ ده او بل توری نه لري ، مثال يې په لاندي جدول کي مطالعه کړئ :

د اقلاب مثالونه			
د اقلاب توری	ميم په يوه کلمه کي وي	ميم په دوو کلمو کي وي	د تنوين مثال
الباء	(انۢبئوني)	(واما منۢبخل)	(سَمِيْعٌ بَصِيْر)

(د اقلاب لامـل)

د اقلاب لامل :- څرنګه چي تر نون او تنوين وروسته باء راسي نو ادغام خو شونی نه دئ ځکه سببونه يې شتون نه لـري او اخـفـاء هم ستونزمنه ده ځکه مخرجونه يې سره ليري دي نو غوره وګڼل سوه چي نون او تنوين په مـيـم واوړي تر څـو اخـفـاء تـه لاره هواره سي او په اسانۍ سره ترسره سي ځکه ميم د باء سره په مخرج کي يو دئ او پـه څلور صفتونو کي هـم سـره شـريـک دي يعني په جهر ، استفال ، انفتاح او اذلاق کي ميم او بـاء سره شريک دي همدا ډول ميم د نون سره په شپږو صـفـتـونـو کـي سره شـريـک دي يـعـنـي پـه جـهـر ، غـنـه ، تـوسـط ، اسـتـفـال ، انـفـتـاح ، اذلاق سـره شـريـک دي .

(اخــــفــــاء)

۴-اخفاء:- اخفاء په لغت کښي پټولو ته ، په اصطلاح کښي د اظهار او ادغام تر منځ په نون ساکن يا تنوين سره تلفظ کولو ته وايي.

د اخـــفـــاء تـوري :- د اخـفــاء تــوري پــنـځـلـس دي (ص ؛ ض ؛ ذ ؛ ث ؛ ک ؛ ج ؛ ش ؛ س ؛ ق ؛ د ؛ ط ؛ ز ؛ ف ؛ ت ؛ ظ) .

که چيري تر ساکن نون يا تنوين وروسته د حلقي ، يرملون او اقلاب توري نه وه راغلي يعني د هجاء د تـورو د پـاتـه تـورو څخه يو توری راغلی هلته اخفاء مع الغنه کيږي .

په هـر صـورت د اخفاء مع الغنه حقيقت دا دئ چي د نون او ميم آوازو نه بيله تشديده داسی راووزي چي د خپل مخرج څخه صاف نه راوزي بلکي يو څه نيم ډوله ښکاره سي لکه:- پوره مثالونه يې په جدول کي مطالعه کړئ :

د ساکن نون او تنوين د اخفاء مثالونه				
ګڼه	د اخفاء توري	نون په يوه کلمة کي وي	نون په ددوو کلمو کي وي	د تنوين مثالونه
۱	الصاد	﴿ ينصركم ﴾	﴿ مـن صلصال ﴾	﴿ ريـحاً صرصرا ﴾
۲	الذال	﴿ منـذر ﴾	﴿ مـن ذ الـذي ﴾	﴿ سـراعاً ذالك ﴾
۳	الثاء	﴿ منثورا ﴾	﴿ فاما من ثقلت ﴾	﴿ مطاعٍ ثم امين ﴾
۴	الكاف	﴿ينكثون﴾	﴿ فـمن كـان ﴾	﴿ كـراماً كاتبين ﴾
۵	الجيم	﴿انجينكم﴾	﴿ ان جـاءكـم ﴾	﴿ فصبر جميـل ﴾
۶	الشين	﴿ انـشره ﴾	﴿ ان شـآء الله ﴾	﴿ رسولاً شاهدا ﴾
۷	القاف	﴿ينقلبون﴾	﴿ فـان قتلوكم ﴾	﴿ كـتب قيـمة ﴾
۸	السين	﴿مانسخ﴾	﴿ من سلسـلة ﴾	﴿ عَـٰبِدَٰتٍ سَـٰٓئِحَـٰتٍ ﴾
۹	الدال	﴿ اندادا ﴾	﴿ ومن دخلـه ﴾	﴿ قنوان دانية ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

١٠	الطاء	﴿ینطقون﴾	﴿ مـن طـیبـات ﴾	﴿ شـرابـاً طهورا ﴾
١١	الزای	﴿ انـزلنه ﴾	﴿ مـن زكـهـا ﴾	﴿ صـعیدًا زلـقا ﴾
١٢	الفاء	﴿ فانفروا ﴾	﴿ من فضل الله ﴾	﴿ شـیئاً فــریا ﴾
١٣	التاء	﴿ منتهون ﴾	﴿ وان تـصبــروا ﴾	﴿ حلیةً تلبسونها ﴾
١۴	الضاد	﴿ منضود ﴾	﴿ مـن ضـریـع ﴾	﴿ قوماً ضالیـن ﴾
١۵	الظاء	﴿ فانظروا ﴾	﴿ مـن ظـللتم ﴾	﴿ قرًى ظـهرة ﴾

(د اخفاء لامل او د تورو مرتبې)

د اخفاء لامل: څرنګه چې تـر سـاکن نون او تنوین وروسته پورتني پنځلس توري راسي په دغه وخت کي دوئ دوه د دغـه پنځلسو تورو سره نه پوره نژدې والى لري چي ادغام پرې وسي اونه پوره لیري والى لري چـي اظهار پرې وسي له همدې امله پر دې پرېکړه سوې ده چي یو منځنی حالت اختیار سي چي نه پوره اظهار دئ او نه پوره ادغام دئ بلکي یو منځنی حالت دئ .

د اخفاء د تورو مرتبې : د اخفاء توري پر درو برخو وېشل سوي دي:-

په لومړی برخه کي :- طاء ، دال او تاء راځي د دغــه درو تــورو مــرتــبــه و تـنـویـن او نـون تـه نـژدې مــرتـــــبـه ده .

په دوهمه برخه کي :- قاف او کاف دي دغه دوه توري د تنوین او نون څخه په مرتبه کي لیري دي ځکه په مخرج ترې لیري دي .

دریمه برخـه :- پـاتـه لـس تـوري دي چـي د نـون او تـنـوین پــه وړانــدي مــنــځــنی مــرتـبـه لـرونـکـي دي .

(د ساکن نون او تنوین ځیني توپیرونه)

د ساکن نون او تنوین توپیرونه : ساکن نون او تنوین په خپل منځ کي ځیني توپیرونه لري چي عبارت دي له :-

١:- نون ساکن د وصل او وقف په دواړو حالتونو کـښـي ویـل کـیـږي او تنوین په وقف کښي حذفیږي یا بدلیږي یعني نصبي (د دوو زورو) تنوین په الف سره بدلـیږي لکه (صُبْحًا ، چي صُبْحا) ویل کیږي او د دوو پېښو او دوو زېرو تنوین حذفیږي .

٢:- ساکن نون مرسوم او لیکلی وي پرته د دوځایو څخه چي (وَ لَیَکُوْ ناً) په سورة یوسف کښي او (لنسْفَعاً) په سورة علق کښي دي دلته هـم په اصل کښي دغه تنوین نه دئ بلکي خفیفه نون دئ ځکه چي پر فعل باندي تنوین نه راځي ، او تنوین داسي نه دئ بـلـکـي تـل غـیري مـرسـوم وي پـرتـه د یـوه ځـای څـخـه چـي د (کَاَیِّنْ) څـخـه عـبارت دئ .

٣:- ساکن نون د کلمې په اول ، منځ او اخیر کښي راځي او تنوین یواځي او یوا ځي په پای کښي راځي .

۴:- ساکن نون د کلمې په ټولو اقسامو یعـنـي اسم ، فعل او حـرف کـښـي راځـي او تـنـوین یـوا ځـي پـه اسم کښي راځي .

۵:- ساکن نون اصلي او زائد دواړه راځي او تنوین تل زائد وي .

ستاسو ورور احمدیاسیر د دعاء په امید دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(میم ساکن)

ساکن یعني وږغندی لرونکی میم چي کله په کلمة کي راسي درې حکمونه لري چي د لاندي حکمونو څخه عبارت دي :-

۱ـ ادغام **۲ـ اخفاء** **۳ـ اظهار**

۱ : دساکن میم ادغام :- که چیري تر ساکن میم وروسته بل میم راغلی وي هلته له غنې سره ادغام کیږي چي د دواړو میمانو څخه یو مشدد میم جوړیږي دې ادغام ته متماثلین ادغام وایي لکه :-

د ادغام توری	بېلګه (مثال)
المیم	(فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ)

۲ : دساکن میم اخفاء : که چیري تر ساکن میم وروسته (باء) راغلې وه هلته اخفاء مع الغنه کیږي چي دې اخفاء ته اخفاء شفوي ویل کیږي لکه :-

د اخفاء توری	بېلګه (مثال)
المیم	(وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ)

۳ : د میم ساکن اظهار :د میم ساکن اظهار پر دوه ډوله دئ چي د لاندي ډولونو څخه عبارت دي :-

۱ـ قوي اظهار **۲ـ ضعیف اظهار**

۱ـ قوي اظهار :و هغه اظهار ته ویل کیږي چي په اظهار کښي یې مبالغه وي نوموړی اظهار هغه وخت صورت نیسي چي تر ساکن میم وروسته (واو) یا (فاء) راسي هلته نو قوي یا اشد اظهار کیږي لکه :

د قوي اظهار توری	بېلګه (مثال)
الواو	(عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ)
الفاء	(أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِم)

۲ـ ضعیف اظهار : و هغه اظهار ته ویل کیږي چي په اظهار کښي یې ډېرښت نه وي یعني مطلق اظهار وي نوموړی اظهار هغه وخت صورت نیسي چي تر ساکن میم وروسته د (واو) یا (فاء) څخه پرته نور پاته توري راسي نـو هلته ضعیف اظهـار کیږي .

یادونه: د ساکن میم په ادغام او اخفاء کښي غنه شرط ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د لام په قاعدو کي)



۱:- لام جلاله: عبارت دی د لفظ د الله د لام څخه .   نوموړی لام درې حالته لري:

۱:- که چیري د لام جلاله مخکي حرف (ماقبل) يې زور (فتحه) درلود ، نو ډک لوستل کیږي ، د مثال په ډول (انَّ اللهَ).

۲:- که چیري د لام جلاله مخکي حرف (ماقبل) يې پېښ (ضمه) درلود ، نو ډک لوستل کیږي ، د مثال په ډول (نَصْرُاللهِ).

۳:- که چیري د لام جلاله مخکي حرف (ماقبل) يې زېر(کسره) درلوده، نو تش(باریک) ویل کیږي، لکه:(باللهِ ، بِسّمِ الله).

(لام مطلق)

۲:- لام مطلق:- د لام جلاله څخه ماسېوا په قران الکریم کي چي ټوله لامونه راغلي دي ټول د لام مطلق په نامه یادیږي .

د مثال په ډول (اَلْقارِعَةُ) .

لام تعریفي: هغه لام دی چي د کلمې په سر کي راځي ، د مثال په ډول (اَلرَّحْمٰنُ ، اَلحَمْدُ)، د نوموړي لام لپاره دوه حکمونه دي.

۱:- حکم اظهار ۲:- حکم ادغام.

احکم اظهار:- هغه وخت رامنځته کیږي ، چي د نوموړي (ال) لام وروسته حروفي قمریه راغلي وي ، چي مجموعه جمزوري رحمة الله علیه په دې قول کي جمعه کړې ده:(ابغ حجک وخف عقیمه)(الهمزة ـ الباء ـ الغین ـ الحاء ـ الجیم ـ الکاف ـ الواو ـ الخاء ـ الفاء ـ العین ـ القاف ـ الیاء ـ المیم ـ الهاء) .

۲حکم ادغام:- هغه وخت رامنځته کیږي ، چي د نوموړي (ال) لام وروسته د حروفي قمریه څخه ماسېوا هغه حروف چي د شمسیه په نامه یادیږي راسي .

د شمسیه لام مثالونه			
د ادغام توري	مثالونه	د ادغام توري	مثالونه
الطاء	(الطیبت)	النون	(النشور)
الثاء	(الثمرات)	الدال	(الـدهر)
الصاد	(الصلوت)	السین	(السلـم)
الراء	(الرحمٰن)	الظاء	(الظآنین)
التاء	(التائبون)	الزای	(والزیتون)
الضاد	(والضحي)	الشین	(والشمس)
الذال	(والذاکرین)	الام	(الله)

د قمریه لام مثالونه			
د اظهار توري	مثالونه	د اظهار توري	مثالونه
الهمزة	اَلاَنْعَامُ	الخاء	اَلْخَیْرُ
الباء	اَ لْبِرّ	الفاء	اَلْفِتْنَةُ
الغین	اَلْغَمَامُ	العین	اَلْعَامَةُ
الحاء	اَلْحَمِیْمُ	القاف	اَلْقَمَرُ
الجیم	اَلْجَنةُ	الیاء	اَلْیَوْمَ
الکاف	اَلْکَوْثَرُ	المیم	اَلْمَالَ
الواو	اَلْوِلْدَانُ	الهاء	اَلْهُدَی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه:- **۱حکم اظهار** ته همدا ډول اظهار قمري هم وايي ، **۲حکم ادغام** ته همدا ډول ادغام شمسي ویل کیږي .

لام غیر تعریفي:- هغه نور لامونه چې په قرآن الکریم استعمالیږي ، د غیرتعریفي لامونوپه نامه یادیږي ، او همېشه هغوی ټوله باریک(تش) ویل کیږي .

(حــرکــت)

حرکت:- حـرکت پـه لغات کي ښـورېدلو ته وايي ، د تجوید په اصطلاح کي له زور ،زېر ، پېښ څخه عبارت دئ .

فتحه یا زور :- فتحه د انـفـتـاح شفـتـین څخه اخسـتـل سـوې ده چـي مقصد څنـي د خولې او آواز خلاصـوالی دئ .

ضمه یا پېښ :- ضمه د انضمام شفتین څخه اخستل سوې ده چي مقصد څني د شونډانو او آواز یو ځـای والی دئ .

کسره یا زېر :- کسره د انـخـفـاض څـخـه اخـسـتـل سـوې ده چـي مقصد څـني د خـولې او آواز ټـیـټ والی دئ .

قاعده :زېر او پېښ همېشه باریك وي او زور که چیرې پر باریك حرف باندي وو باریك ویل کیږي او که پر ډك وو ډك ویل کیږي.

(امـالـه)

اماله : د امالې لغوي معنٰی میل او کږېدل دي او په اصطلاح کښي د زېر لوري ته د زور راکږېدل دي همدا ډول د(یاء) لـوري ته د (الف) راکږېدل دي لکه(بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرِىٰهَا) که چیرې د زېر لوري ته د زور کږېدل او د الف لوري ته د یا کږېدل زیات وي نو اماله کُبرٰی ورته ویل کیږي او که لږ وه اماله صُغرٰی ورتـه ویـل کـیـږي .

یـادونـه : د امام حفص رحمة الله علیه په آند په ټـولـه قرآنکریم کي اماله یـوائـي یو ځای کیږي چي هغـه پـورتـه ذکرسـوه .

(اشـبـاع)

اشباع : اشباع و دې ته وايي چي حرکت دومره اوږد سي چي د هغه څخه بل توری پیداسي .

په دغه وخت کښي هم د اشباع څخه ځان ساتل حتمي دئ دا ځکه چي که مشدد توری پـه سختئ سره ونـه ویل سي نـو هـغـه تشدید به لیري سي کله چي تشدید لیري سي نو لحن جلي به راسي او لحن جلي حرام دئ په ځانګړي ډول په وقـف کـښـي زیـاتـه پاملرنه کول پکار دي که داسي و نسي نو مشدد حرف به مخفف سي ځکه په وقف کښي چي ساه په خلاصېدو وي د مشدد لپاره د قوت اړتیا ده ځکه که داسي ونسي نو د تساهل له امله غلطي شونې ده .

قاعده :که چیرې تر فتحې وروسته الف نه وي، تر ضمې وروسته ساکن واو نه وي او تر کسرې وروسته ساکنه یاء نه وي په دغه حرکاتو کي اشباع جائزه نه ده لکه : (قُلۡ، وَٱلۡأَرۡضَ ، مَنۡ إِلَٰهٌ) همدا ډول تر ضمې څخه وروسـتـه چـي واو مـشدد وي او تـر کسرې وروسته چي یاء مشدده وي لکه : (ٱلسَّوِيِّ ، لُجِّيٍّ) .

ستاسو ورور احمدیاسیر د دعاء په امید دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(تسهيل)

تسهيل :- تسهيل و دې ته وايې چې همزة د همزې او د ماقبل د حرکت څخه پيداکېدونکی حرف تر منځ وي مثلاً زور څخه پيداکېدونکی توری الف دی او د پېښ څخه پيداکيدونکی توری واو دی او د زېر څخه پيداکيدونکی توری ياء ده لکه: (ءَاَعۡجَمِیٌّ).

يادونه : پاته دي نه وي چې د امام حفص رحمة الله عليه په مذهب تسهيل يوازې په پورتني لفظ کې دئ بل ځای نسته .

(د راء په قاعدو کښې)

د (راء) ډکوالی :کومه راء چې په قرانکريم راځي څلور حالتونه لري چې د لاندې حالتونو څخه عبارت دي :-

لومړی حالت : چــې راء نــرمــه ويـل کـيـږي او ډک ويـل يـې نـه وي روا (جائز) .

دوهم حالت : چې د راء نرم او ډک ويـل دواړه روا وي مـګـر نرمـه ويـل يې غـوره وي .

دريم حالت :راء نرمه هم ويل کيږي او ډکه هم ويل کيږي مګر ډکه ويل يې غوره وي .

څلورم حالت : چــې راء ډکــه ويـل کـيـږي او نــرم ويــل يې نــه وي روا (جائز) .

(د راء لومړی حالت)

لومړی حالت : لـومړی حـالـت د راء نـرم ويل دي چې ډک ويل يې نه دي روا دغه حالت په ۸ صورتونو کې مـنـځـتـه راځـي چې د لاندينيو ځايونو څخه عبارت دي :-

۱-کله چې راء زير ولري نرمه ويل کيږي هر ډول راء چې وي يعني که د کلمې په سر کې راغلې وي لکه :(رجال) ، کـه د کلمې پـه منځ کـې راغلې وي ، لکه : (مـريـئـا) ، که د کلمې په پای کې راغـلـې وي لکه : (ليلة القدر خير) ، زېر يې اصلي وي لکه په مخکـنـي مثال کې او که يې زېر عارضي وي لکه :- (وذكر اسم) ، ورستنئ حرف يې د استفال توری وي لکه په مخکني مثال کې او که يې وروستنی توری د استعلاء توری وي لکه : (ورضوان من الله) .

۲-هغه راء چې امـاله پـرې کيږي نرمه ويـل کـيـږي الـبـتـه د حفص رحـمـة الله عليه پـه آند دغه راء يـوازې يو ځای ده چې د (بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا)څخه عبارت ده .

۳-راء چې زېر ولري او د روم له امله وقف پرې وسي نرمه ويل کيږي لکه : (والعصر) .

۴-راء چې د کلمې په منځ کې راغلې وي ، په اصلي سکون سره ساکنه وي ، مخکې يې زېر وي او وروسته يې د استعلاء توری نه وي راغـلـئ نـرمـه ويـل کـيــږي لــکــه : (فــرعــون) .

(د راء د نرم (تش) والي پاته ۴ صورتونه)

۵-راء چې د کلمې په آخر کې راغلې وي او په اصلي سکون سره ساکنه وي که يې وروسته د استعلاء توری وي او که نه وي نـرمـه ويل کيږي ، البته دغسې راء په قرآنکريم کې درې ځايه شتون لري او نور ځايونه نسته چې د لاندې ځـايـونـو څخه عـبـارت دي:-

(c) ketabton.com: The Digital Library

(رب اغفرلي ، فاصبرصبرا ، ولاتصعر خدک ، ان انذر قومک) .

٦ -راء چي د وقف له امله په عارضي سکون سره ساکنه وي او مخکي يې کسره وي هر ډول راء چي وي يعني تر وقف وړاندي زور لرونکې وي لکه(لينذرَ)، که تر وقف وړاندي پېښ لرونکې وي لکه :(منتشرٌ) او که تر وقف وړاندي زېر لرونکې وي لکه:(منهمرِ).

٧ -راء چي د وقف له امله په عارضي سکون سره ساکنه وي او مخکي توری يې هم ساکن وي البته د استفال صفت لرونکې وي لکه :- (الذکر) .

٨ -راء چي د وقف له امله په عارضي سکون ساکنه وي او مخکي يې مديه او يا لينة ياء راغلې وي لکه (الحمِير)په مديه ياء کي او(ذالک خير)په لينة ياء کي .

(د راء دوهم حالت)

دوهم حالت : راء چي نرم او ډک ويل يې دواړه روا وي مگر نرم ويل يې غوره وي دغه حالت څلور نوعي لري چي د لاندينيو نوعو څخه عبارت دي :-

لومړی نوعه : راء چي د وقف له امله وړغندی لرونکې سوې وي او وروسته يې ياء د سپکوالي له امله حذف سوې وي دغسي راء يوازي په قرانکريم کي په دوو کلمو کي راځي چي د (نذر ، يسر) څخه عبارت دي .

البته د نذر لفظ په قرانکريم کي ۶ ځايه په سورة قمر کي تکرار سوی دئ بل ځای نسته او يسر يو ځای په سورة فجر کي راغلی دئ.

دوهمه نوعه : راء چي د وقف له امله وړغندی لرونکې سوې وي او وروسته يې ياء حذف سوې وي د غه نوعه يوازي په قرانکريم کي په يوه کلمة کي راځي چي د (اسر) څخه عبارت ده البته نوموړې کلمة داسي ده چي کله يې په سر پوري فاء موښتې وي . لکه:(فاسر باهلک بقطع من الليل ولايلتفت منکم احدا) او کله يې وړاندي ان وي لکه :(ولقد اوحينا الي موسٰی ان اسر بعبادي). فا چي يې په سر پوري موښتې وي په قرانکريم کي درې ځايه راغلې ده چي يو ځای په سورة هود کي دوهم ځای په سورة حجر کي او دريم ځای په سورة دخان کي دئ ، چي مخکي يې ان راغلی وي دوه ځايه دغه کلمة په قرآن کي راغلې ده چي يو ځای په سورة طٰهٰ کي او دوهم ځای په سورة شعراء کي دئ .

(دريمه ، او څلورمه نوعه (قسم))

دريمه نوعه : راء چي د وقف له امله ساکنه وي، مخکنی توری يې د استعلاء صفت ولري او ساکن هم وي او د وصل په وخت کي نوموړې راء مکسوره وي لکه :- (واسلنا له عين القطر) البته دغه راء په قرانکريم کي يوازي په پورتني ځای کي راغلې ده چي په سورة سبأ کي دئ او بل ځای نسته .

څلورمه نوعه : راء چي وړغندی لرونکې وي ، مخکنی توری يې په اصلي کسره سره مکسوره وي او وروسته يې د استعلاء مکسور توری راغلی وي د غه کيفيت لرونکې ياء هم په قرانکريم کي يوځای راغلې ده چي د (فکان کل فرق کالطود العظيم) څخه عبارت ده چي په سورة شعرآء کي ده .

په پورتنيو څلورو نوعو کي نرم والی او ډک والی دواړه روا دئ مگر نرم والی يې غوره دئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د راء دریم حالت)

دریم حالت:- راء چي نرم والی او ډک والی یې دواړه روا وي مګر ډک والی یې غوره وي په دغه حالت کي دوې نوعي سته چي د لاندي نوعو څخه عبارت دي :-

لومړی نوعه : راء چي د وقف لـه امله وړغندی لرونکې سوې وي مخکنی توری یې ساکن وي ، تر د غه ساکن توري مخکي د استعلاء زبر لرونکئ توری وي او د غه راء د وصل په حالت کي زور لرونکې وي په دغه حالت کي نرم والی او ډک والی دواړه روا دي البته ډک والئ یې غوره دئ لکه : (ان تبؤءا لقومکما بمصر بیوتا) .

په د غه کیفیت راء په قرانکریم کي یوازي د مصر په لفظ کي راځي چي څلور ځایه په قرآنکریم کي تکرار سوی دئ لومړی ځای په سورة یونس کي دوهم او دریم ځای په سورة یوسف کي دی او څلورم ځای په سورة زخرف کي دئ .

(د راء د دریم حالت دوهمه نوعه)

دوهمه نوعه : راء چي د وقف له امله وړغندی لرونکې سوې وي مخکنی توری یې پېښ لرونکی ، یا زور لرونکی او یا وړغندی لرونکی نه وي خو مخکي توری یې زور ولري مګر راء د وصل په حالت کي زېر لرونکې ویل کیږي په دغه ځای کي هم ډک والی او نرم والی دواړه روا دي خو ډک والی یې غوره دی لکه : (البشَر) .

څلورم حالت : راء چي ډکه ویل کیږي او نرم ویل یې روا نه وي غالبًا په لاندي دوولسو ځایونو کي راځي :-

۱- راء چي زور ولري لکه : (رَبِّ) ۲- راء چي پېښ ولري لکه : (رُزِقُوا) .

۳- راء چي په اصلي سکون سره وړغندی لرونکې وي او مخکنئ توری یې زور ولري لکه : (مَرْيَم) .

۴- راء چي په اصلي سکون سره ساکنه وي او مخکنئ توری یې پېښ ولري لکه : (تُرْ هِبُوْنَ) .

۵- راء چي په اصلي سکون سره ساکنه وي او مخکنئ توری یې زېر ولري مګر وروسته یې د استعلاء زور لرونکی توری وي . لکه :- (لَبِٱلْمِرْصَاد) .

(د راء د ډکوالي راتلونکي ۴ ځایونه)

٦- راء چي په اصلي سکون سره ساکنه وي او مخکنئ توری یې زېر لرونکئ وي البته مخکي توری یې په بله کلمة کي وي لکه :- (ارتضي ، وقل رب ارحمهما) .

۷- راء چي په اصلي سکون سره ساکنه وي او مخکنئ توری یې زېر لرونکی وي مګر د مخکنی توری حرکت یې عارضي وي او مخکنئ توری او راء په یوه کلمة کي وي لکه:- (ٱرْجِعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ) .

۸- راء چي په اصلي سکون سره ساکنه وي او مخکنئ توری یې عارضي زېر ولري البته مخکنئ توری د راء څخه په جلا کلمة کي وي لکه:- (أَمِ ٱرْتَابُوٓاْ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- راء چي د وقف له امله وړغندی لرونکې وي او مخکنی توری يې پېښ لرونکي وي لکه :- (ويولون الدُبرْ) .

(د راء د ډګوالي وروسته ۳ ځايونه او مشدده راء)

۱۰- راء چــي د وقـف لـه امـلـه وړغندی لـرونـکـې وي او مخکنئ تــوری يې زور ولـري لـکـه :- (ومن کَفَرْ) .

۱۱- راء چي دوقف له امله وړغندی لرونکې وي ، مخکنئ توری يې هم وړغندی لرونکی وي خو تر مخکي توري د مخه توری يې پـېـښ ولـري لـکـه:- (ٱلۡعُسۡرِ) .

۱۲- راء چي د وقف له امله وړغندی لرونکې وي ، مخکي توری يې هم وړغندی لرونکي وي خو تر مخکني توري د مخه تـوری يې زور ولري لکه:- (وَٱلۡفَجۡرِ) .

مشدده راء : مشدده راء يعني شد لرونکي راء پـه حکم کښي د يـوې راء ده څـه ډول چـي يې حرکت وي د هغـه مـوافـقـه بـه ويل کيږي ، لکه:- (الرَّحۡمَـٰن)

(د کلمې تعريف ، اقسام)

دکلمې تعريف : کلمه يو داسي لفظ دئ چي پر يوې مفر دي معنٰی باندي دلالت کوي لکه : ﴿ زيد ، ضرب ، من ﴾ او داسي نور...

دکلمې اقسام : ښـکـاره خبره ده چـي عربي کلمة پـر درو برخـو وېـشل سـوې ده چـي د لانديـنـي ډولـونو څخه عـبارت دي :-

۱- اسم **۲- فعل** **۳ - حرف (توری)**

۱- اسم: په لغت کښي علو (لوړوالی) ته وايي او په اصطلاح کښي هغه لفظ ته ويل کيږي چي پـر معـنٰـی باندي د بل لفظ د اړتيا پرته د لالت وکړي او په زمانو پوري هم اړه و نلري لکه : (احمد ، څای ، ښار) او داسي نور ...

(فعل ، حرف)

۲- فعل: پـه لغت کښي کړني يا کار ته وايي اوپه اصطلاح کښي له هغه لفظ څخه عبارت دئ چي پر معنٰی باندي د اړتيا پر ته دلالت وکړي مگر په يوه له درو زمانو پوري اړه ولري چي له (ماضی ، حال او استقبال) څخه عبارت دي.

لکه : (ذَهَب ، ضَرَبَ ، يَنْصُر) .

۳- حرف (توری) : په لغت کښي طرف يا څنډي ته وايي او په اصطلاح کښـي هغـه لفظ تـه وايـي چي د بل توري د يوځای کېدو پرته پر معنیٰ دلالت نسي کولای او پـه زمـانو پـوري هـم اړه نـه لـري لـکـه :- (مِنْ و الٰی) .

البته د حرف د غه تعريف د نحو علم د پوهانو له آنده دئ او د مجودينو له آنده يې هغه تعريف ؤ کوم چي د مخارجو په بـحـث کـي تـېر سـو .

(د حرف قسمونه)

دحرف قسمونه :- حروف پر دوه قسمه دي چي د لاندي قسمونو څخه عبارت دي :-

لومړی : اصلية **دوهم : فرعية .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلية حروف :- نوموړي حروف (۲۹) دي چي د (الف) څخه بیا تر (ي) پوري د هجاء د تورو څخه عبارت دي څکه ورته اصلیة حروف ویل کیږي چي په خپل اصلي کیفیت سره ادا کیږي .

فرعية حروف : فرعیة حروف د هغه تورو څخه عبارت دي چي د دوو مخرجو څخه ادا کیږي او یا د دوو حرفونو ، صفتونو تر منځ متردد وي ، څکه ورته فرعیة ویل کیږي چي فرعه د زبرد په معنی ده دغه حروف هم په اصلي بڼه نه دي . بلکي پر یوه بله زیږدول سوي بڼه باندي ادا کیږي نوموړي حروف اته دي .

(د اسم او فعل تر منځ توپیر)

د اسم او فعل تر منځ توپیر:-

اسم او فعل تر خپل منځ ځیني لفظي توپیرونه لري یعني هر یو ځانته خپلي ځانګړتیاوي لري چي ځیني یې په لاندي ډول دي:-

د اسم نښي : ـ

۱- د هري کلمې په اخر کښي چي زبر یا تنوین راغلی وي هغه اسم دئ لکه : (علیماً) او ﴿ بزیدٍ ﴾ .

۲- هره کلمه چي په الف لام سره پیل سوې وي هغه اسم دئ . لکه : (ٱلْحَمْدُ) ﴿ الانعام ﴾ .

فعل دپورته ځانګړتیاوو څخه یوه هم نه لري .

د فعل نښي : ـ

۱- د فعل په سر کي قد راځي لکه : ﴿ قد یعلم ﴾ **۲-** د فعل په سر کي سین راځي لکه : ﴿ سیخرج ﴾ .

۳- د فعل په سر کي سوف راځي لکه : ﴿ سوف تعلمون ﴾ **۴-** د فعل پر سر باندي جازمه توری راځي لکه : ﴿ لم یضرب ﴾ .

(شد لرونکی نون او میم (نون مشدد ، میم مشدد))

نون او میم چي شد لرونکی وي کله د کلمې په منځ کي وي او کله د کلمې پر څنډه راغلئ وي لکه :-

شد لرونکي توری	د کلمې په منځ کي	د کلمې په پای کي
النون	﴿ وَيُمَنِّيهِمْ ﴾	﴿ إِنَّ ﴾
الميم	﴿ أُمَّتُكُمْ ﴾	﴿ ثُمَّ ﴾

په هر صورت هر چیري چي شد لرونکی میم او نون راسي ، د کلمې په منځ کي وي ، که په پای کي وي په اسم کي وي ، که په فعل کي وي او که په حرف کي ، د غنې څرګنوالی پکښي واجب دی یعني غنة به پرې کیږي او دوئ ته د غنې توري هم ویل کیږي.

(غـنـة)

د غنې تعریف : غنة په لغات کي زمزمې ته ویل کیږي ، په اصطلاح کي یو ښائسته ږغ دئ چي د میم او نون په جسمونو کي نغښتی دئ ، **د غنې مخرج** : لکه مخکي چي یې بیان وسو د خیشوم څخه ادا کیږي .

د غنې ډولونه : غُنه پر دوه ډوله ده چي عبارت دي له:- **۱- زماني غنة** **۲- ذاتي غنة**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-زماني غنه : هغه غُنة ده چي کله وي اوکله نه وي لکه د نون ساکن غُنة یا د تنوین غُنـة چـي وروسـته یې د حلق توری وي پر یوه لاهـم غُنه نه کیږي او کـه نـور توري وي غُـنـه پـر کـیـږي لکه ﴿ اَنْتَ ، کُنْتَ ﴾ او داسي نور...

۲-ذاتي غنة : هغه غُنه ده چي تل وي لکه نون او میم چي مشدد وي:﴿ الٓمٓ ، وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ ، إِنَّ ٱلَّذِينَ ﴾ او داسي نور چـي هر وخت غُنة پر کیږي .

د خیشوم څخه د غُنې ټول توري تلفظ کیږي یعني هر وخت چي د غُنې پر تورو غُنة وسي د دوئ آواز له خیشـوم څخه راوزي .

د غنې حروف : نـون او میـم چي مشدد وي دتشدید غُنة پرې کیږي ، ساکن نون او تنوین چي وروسته یـې د حلق د تـوري او د تام ادغام د تورو یـعـنـي (لر) څخه پرته کوم بل توري راسي غُنه پر کیږي .

د غنې اندازه او د معلومولو طریقه : د غُنې اندازه یو الف ده چي دوه حـرکـتـه کـیـږي البته نـون او میم چي مشدد وي غُنة یـې تر یو نیم الف پوري هـم زیـاتـیـدای سـي چــي درې حــرکــتـه کـیـږي .

او د معلومولو طریقه یې داده چي خلاصې ګوتي بندي او یا بندي ګوتی خلاصي کړي .

(مَــــدّ)

د تجوید د اصولو په لړ کي مدونه هـم پـه اړینو شیانو کي شمېرل کیږي ځکه مد کول د رسول الله ﷺ څخه ثابت سـوی دئ له همدې امله پکار ده چي د مد ټول ډولونه و پېژندل سي ترڅو په صحیح ډول مد اداسي د مد تفصیل په لاندي ډول دی .[5]

دمد لغوي معنی :- مدپـه لـغـت کـښـي زیـاتـولـو ، کـشـولـو ، او اوږدولـو تــه وایـــي .[6]

دمداصطلاحي معنی:- کشول دي د آواز سره د ساه پر حروف لین او یا پر حروف مده بانـدي .

دمدتوری : د مد توري درې دي چي عبارت دي : [واو ، الف ، یاء] چي مجموعه یې وای کیږي .

یادونه : پورتني حروفو ته دمد توري وایي او د لین توري هم ورته وایي یعني مد د لین پر تورو هم کیږي او د مد پـر تورو هـم کیږي که څه هم د مد او لین توري یو دي خو صرف تـوپیر یې دومـره دئ چي د مد تورو ته هغه وخت حروف مـد وایـي چـي خپله ساکن او د مخکني توری حرکت یې له خپله جـنسه څخه وي لکه : ﴿ نُوحِيهَآ ﴾ .

د الف جنس زور ، د واو جنس پېښ او د یا جنس زېر دئ ، او د لین تورو ته هغه وخت د لین توري ویل کیږي چي دوئ خپله سـاکـن وي او د مـخـکـني توري حرکـت یې زور ولـــري .

حاصل دا چي پـورتـنـي درې تـوري څـو حالتونه لري چي د لاندي حـالـتـونو څخه عـبـارت دي :

دمده د تورو څخه الف تل مده او لین راځي بل حالت نه پکښي جوړیږي ځکه الف تل ساکن وي او مخکي توری یې زور وي د دغه شرط په لرلو سره هم لین ورته ویل کیږي او هم مده ورته ویل کیږي ، مګر یاء او واو درې لاندیني حالتونه لـري :

5: الاصل في هذالباب ماثبت قتادةﷺ انه قال سألت انسﷺ بن مالک عن قراءة النبيﷺ ؟ فقال : کان يمد مدا . اخرجه البخاري في کتاب فضائل القرآن – باب مد القراءة . انظر : فتح الباري بشرح صحيح البخاري ج : ۹ ص : ۹۰ حديث : ٥٠٤٥ . وبلفظ اخر : اخرجه النسائي ج : ۲ ص : ۱۷۹ .

6 : کما في قوله تعالي :﴿ وَيُمۡدِدۡكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ ﴾ اي يزدکم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-واو او یاء که خپله ورغندي لرونکي وه د مخکني تورو حرکت يې له خپله جنس څخه وو مده توري ورته ويل کيږي.

۲- واو او یاء که خپله وړغندي لرونکي وه او د مخکني تورو حرکت يې زور وو د لين توري ورته ويل کيږي .

۳- واو او یاء که وړغندي لرونکي نه وه بلکي حرکت لرونکي وه حروف علت ورته ويل کيږي .

دنوم اېښودلو لامل : مده تورو ته ځکه مده توري وايي چي پر دې تورو باندي آواز کشيږي او مد هم کشېدو ته ويل کيږي او لين په دې وجه ورته ويل کيږي چي لين د نرمۍ په معنٰی دئ او دغه حروف هم د لين صفت لرونکي دي يعني په ډېره اسانۍ سره اداکيږي.

د مدد تورو دټاکلو لامل :د مد لپاره ځکه واو الف او يا ء و ټاکل سوه چي د هجاء په تورو کښي بل توری نسته چي د حرکاتو څخه جوړسوی وي ، الف د دوو زورو څخه ، واو د دوو پېښوو څخه ، او يا د دوو زېرو څخه جوړه سوې ده. مديت د دې درو تورو په ذات کښي پروت دئ ځکه چي آواز پرې کشيږي .

(د مد ډولونه)

مد پر دوه ډوله دی چي د لاندينيو ډولونو څخه عبارت دي :-

۱- مداصلي : هغه مد ته وايي چي د مد د توري څخه وروسته د مد سبب سکون [وړغندی] يا همزة شتون ونه لري لکه :-

﴿ قِيلَ، قَالُوٓاْ، قَالَ ﴾ و مد اصلي ته مد طبعي هم وايي ځکه چي د جوړ او روغ طبيعت ښتن دغه مد تر خپلي اندازې نه کموي اونه يې زياتوي د مد اندازه يې يو الف ده چي دوه حرکته کيږي او تر خپل اندازې يعني يو الف کم ويل شرعاً حرام دي ، همدارنګه اصلي مد دوه نومونه نور هم لري لکه:- ۱:- مد طبعي ، ۲:- مد ذاتي .

ځکه مد اصلي ورته ويل کيږي چي اصل ذات ته ويل کيږي که چيري يو الف اندازه مدونه سي نو د حرف ذات به له منځه لاړسي لکه قَلَ ، په اصل کي قَالَ .

(د اصلي مد ډولونه)

اصلي مد پر درې ډوله دی :-

۱- لومړی ډول هغه مد دئ چي د وصل او وقف په دواړو حالتونو کي پاته وي لکه : ﴿ مَٰلِكِ ﴾البته نوموړي مد کله د لفظ په سر کي راځي لکه مخکنۍ مثال او کله په پای کي راځي لکه : ﴿ وَضُحَىٰهَا ﴾.

۲- دوهم ډول هغه مد دئ چي د وقف په حالت کي وي او د وصل په حالت کي نه وي لکه : ﴿ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾.

۳- دريم ډول هغه مد دئ چي د وصل په حالت کي وي او د وقف په حالت کي نه وي لکه : ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ﴾ او ﴿ بِهِۦ بَصِيرًا ﴾.

يادونه : په اصلي مد کي دريم ډول مد د تجويد د علماؤ له آنده د مد صلې په نامه هم يادېږي .

(مد صله)

مد صله هم په خپل ځان کي ډولونه لري چي تفصيل يې په لاندي ډول دی :-

لومړی بايد هغه حرف وپېژندل سي چي نوموړی مد پرې کيږي د غه حرف چي مد صله پر کيږي د هاء کناية په نامه يادېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه هاء ځانته ډولونه لري د لته هغه هاء مراد نه ده چي د کلمې د اصل څخه وي او نه هغه هاء مراد ده چي د مونث مفرد لپاره ضمير وي بلکي د لته هغه هاء مراد ده چي د مذکر غائب لپاره ضمير وي په حقيقت کي هاء کناية څو حالتونه لري چي د لاندي حالتونو څخه عبارت دي :-

دکناية هاء حالتونه:کناية هاءڅلور حالتونه لري چي هر حالت يې ځانته بېل کيفيت او بېل حکم لري چي تفصيل يې په لاندي ډول دئ:-

لومړی حالت : دا چي هاء په داسي ځای کي شتون لري چي مخکنئ او وروستنئ توري يې حرکت لرونکي وي .

لکه: ﴿بِهِۦ بَصِيرًا﴾ او ﴿إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابًا﴾.

حکم يې : هاء کناية چي په دغه حالت کي شتون و لري حکم يې دا دئ چي د دوو حرکتونو په اندازه وقف پر وسي يعني که دغه هاء پيښ درلودئ د واو په اندازه دي کش سي او که يې زېر درلودی د ياء په اندازه دي کش سي ، په دې شرط چي وروسته يې همزة نه وي راغلې که يې وروسته همزة راغلې وه حکم به يې وروسته راسي دا صله د منفصل مد له ډلې څخه ده البته د دغه حالت څخه درې ځايونه استثناء دي چي په لاندي ډول دي :-

لومړی ځای : لومړی ځای د الله ﷻ په دې قول کي د ﴿ارجه﴾ لفظ دئ : ﴿قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ﴾ چي په سورة اعراف کي دئ او بل د الله ﷻ په دې قول کي چي په سورة شعرآء کي دئ : ﴿قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ﴾ په دغه دواړو ځايونو کي هاء وړغندی لرونکې ويل کيږي مد نه پرې کيږي .

دوهم ځای : دوهم ځای د ﴿القه﴾ لفظ دئ چي مد نه پر کيږي بلکي وړغندی لرونکې ويل کيږي د الله ﷻ په دې قول کي : ﴿فَأَلۡقِهۡ إِلَيۡهِمۡ﴾ په سورة نمل کي .

دريم ځای : دريم ځای د [يرضه] لفظ دئ دالله ﷻ په دې قول کي :- ﴿وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ﴾ .

(د هاء کناية دوهم ، دريم ، او څلورم حالت)

دوهم حالت: دا چي هاء کناية په داسي ځای کي شتون ولري چي مخکي او وروسته دواړه توري يې وړغندي لرونکي وي لکه:-

﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ﴾ په سورة بقرة ۱۸۵ شمېره آية کي .

حکم يې : د نوموړي هاء حکم دادئ چي د ټولو علماؤ په آند مدصله نه پر کيږي .

دريم حالت : دا چي هاء کناية په داسي ځای کي شتون ولري چي مخکئ توری يې حرکت لرونکی وي او وروسته توری يې وړغندی لرونکی وي لکه : ﴿تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ﴾ په سورة ملک کښي .

حکم يې :د نوموړي هاءحکم هم د دوهم حالت په څېر دی يعني صلة نه پر کيږي ځکه د غير قانوني ساکينينو يوځای والی منځته راځي چي تفصيل به يې وروسته راسي .

څلورم حالت : داچي هاء کناية په داسي ځای کي شتون ولري چي مخکنئ توری وړغندئ لرونکی وي او وروسته توری

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې حركت لرونكى وي لكه :- ﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدًى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴾ په سورة البقرة كې .

حكم يې : د نوموړي هاء حكم دا دئ چي د حفص رحمة الله عليه په آند صلة نه پرې كيږي او پاته علماء صلة پرې كوي مګر حفص رحمة الله عليه په دغه ډول ځايونو كي پر يوه ځاى باندې صلة كوي چي د لاندي ځاى څخه عبارت ده :-

﴿ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ﴾ په سورة فرقان ٦٩ شمېره آية كي ، حفص رحمة الله عليه په دغه ځاى كي د صلې كولو لامل دا بولي چي په دې ځاى كي د ګمراه بيان دئ صله كول ورسره ښايي چي ښه بدي يې څرګنده سي .

(د صلة مد ډولونه)

صلة دوه ډوله ده چي عبارت ده : **١- قصيره صلة [كوچنى صلة]** **٢- طويلة صلة [اوږده صلة]** .

١- قصيره صلة : كله چي د[هاء]څخه مخكې او وروسته متحرك تورى وي مګر وروسته يې قطعي همزة نه وي لكه : ﴿ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ ، مَا نَفَقَهُ كَثِيرًا ﴾ قصيره صله پرې كيږي ، د مد اندازه يې يو الف ده .

٢- طويلة صلة : هغه مد ته ويل كيږي چي تر هاء ضميريه وروسته قطعي همزة راغلې وي لكه : ﴿ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ، قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب ﴾ د مد اندازه يې دوه نيم الفه ده ، دا چي قطعي همزة كومه همزة ده ؟ وروسته به يې د ډولونو سره په تفصيل بيان راسي ، د مد دوهم ډول عبارت دى د مد فرعي څخه :-چي انشاالله په راتلونكي عنوان كي به راسي....

(فرعي مد)

فرعي مد هغه مد ته وايي چي تر اصلي مد زيات مد پرې وسي د هغه سبب له امله چي وروسته يې شتون لري چي د همزة او سكون څخه عبارت دي لكه : ﴿ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ، جَآءَ ﴾ ، د مد فرعي اندازه درې يا درې نيم الفه ده .

د مد د سببونو ويش : د مد سببونه پر دوه ډوله دي چي د لاندي ډولونو څخه عبارت دي :-

لومړى ډول : لفظي سببونه دي چي د همزة او سكون څخه عبارت دي او ځكه همزة او سكون د مد سببونه ټاكل سوي دي چي د مده د توري څخه وروسته چي همزة راسى همزة سخت او قوي تورى دئ او د مد توري كمزوري توري دي نو د همزې د له منځه تللو ويره وه ځكه نو مد پرې كوو تر څو همزة په سمه توګه ادا سي او په آواز كښې قوت راسي ، سكون ځكه د مد سبب دئ چي د دوو ساكنو تورو يو ځايوالى راځي او د دوو ساكنو تورو يو ځاى والى د لوستلو پر مهال پر ژبه باندي د روند دئ نو ځكه مد پر كوو چي د غه مد بېلوونكى دى .

دوهم ډول : معنوي سبب دى لكه چي د تعظيم او درنښت لپاره تر اصلي مد زياتوالى رامنځته سي لكه : ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ چي د دغه منفصل مد قصر وسي كه څه هم دغه كړنه د شاطبيې په حواله حفص رحمة الله عليه روا نه بولي مګر د طيبة النشر په حواله جائز ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د فرعي مد اقسام)

د مدفرعي اقسام ډېر دي دلته يې بحث په ۹ قسمو کيږي :-

۱:- مدمتصل : هغه مد ته ويل کيږي چي حروف مده راغلي وي ساکن وي او ماقبل يې له خپله جنسه وي او همزة يې د عين د سرپه شان وي ، د مثال په ډول :- ﴿ جَآءَ ، شَآءَ ، سِىٓءَ ﴾ ، ځکه متصل ورته ويل کيږي چي همزة او حرف مد دواړه په يوه کلمه کي دي .

د متصل مد حکم : لکه مخکي چي مو وويل متصل مد کول واجب دی يعني پر ښودونکی يې مسؤل دئ ځکه چي متصل مد د ټولو علماوو په اتفاق واجب دئ او امام جزري رحمة الله عليه فرمايلي دي چي د متصل مد قصر ما په هيڅ ځای کي نه دئ موندلی ، نو مد واجب هم ورته ويل کيږي .

۲:- مدمنفصل : هغه مد ته ويل کيږي چي تر حروف مده وروسته همزة د الف يا د لکړي په شکل وي ، ځکه منفصل ورته ويل کيږي چي همزة اوحرف مد په جلاجلا کلمو کي نغښتي دي، لکه[بِمَآ أُنزِلَ ، فِيٓ أَنفُسِكُمْ]، نوموړي ته مد جائز هم ويل کيږي.

د متصل او منفصل مدونو توپير :-

۱- د پيوست مد د مد علامه پنډه ﴿ ﴾ او د ناپيوست مد علامه نرى ﴿ ﴾ وي .

۲- د پيوست مد همزة يعني د مد سبب د عين د سر په شان [ء] وي او د نا پيوست مد همزة يعني د مد سبب د الف په شان ﴿ اَ ﴾ وي ، لکه : ﴿ شَآءَ ، جَآءَ ، قُولُوٓاْ ءَامَنَّا ﴾ .

۳- په پيوست مد کښي حرف مد او سبب د مد دواړه په يوه کلمه کښي وي لکه : ﴿ جَآءَ ، سُوٓءَ ، سِىٓءَ ﴾ او په نا پيوست مد کښي حرف مد په يوه کلمه کښي وي او د مد سبب يې په بله کلمه کښي وي لکه :﴿ فِيٓ أَنفُسِكُمْ ، وَمَآ أُنزِلَ ﴾ .

۳:-مد لازمي کلمي مخفف : هر کله چي تر حروف مده وروسته ساکن حرف راسي په دې شرط چي د دغه ساکن حرف سکون اصلي وي عاريضي نه وي ، لکه:- [ءَآلْـَٔـٰنَ] ، نوموړی مد په ټول قران الکريم دا غه يو ځای دی ، مخفف (سپک) .

۴:- مد لازمي کلمي مثقل : هر کله چي تر حروف مده ورسته مشدد حرف په داغه کلمه کي راسي، لکه:- [وَلَا ٱلضَّآلِّينَ، دَآبَّة] او داسي نور.... مثقل (دروند) .

(حروفِ مقطعات)

حروفِ مقطعات:- حروفِ مقطعات ۱۴حروف دي ، چي عبارت دي:-

له (الف ، الميم ، النون ، القاف ، الکاف ، الطاء ، اللام ، العين ، الحاء ، الراء ، الصاد ، الهاء ، الياء ، السين) .

چي مجموعه يې په داسي ډول ده (مَنْ قَطْعَکَ صِلْهُ سُحَيْرًا) .

د نوموړي حروفو نه معنٰی او نه هم تلفظ په نورو حروفو کي دا خيلېدای سي ، ځکه ورته مقطعات ويل کيږي چي دنورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حروفو ښخه جلا دي ، حروفِ مقطعات پر دوو برخوووېشل شوي دي:-

۱:- هغه حروف چي په تلفظ کي دوه دوه حروف راځي لکه:- طا ، يا ، را ....

۲:- هغه حروف چي په تلفظ کي درې درې حروف راځي لکه:- سين ، صاد ، عين ....

۵:-مدلازم حرفي مثقل: هرکله چي تر حروف مده وروسته د حروف مقطعاتو څخه هغه حروف راسي چي په تلفظ کي درې

درې دي او مشدد وي د لته نو پر دغه حرف مد لازم حرفي مثقل کيږي ، لکه:- (الٓمّٓ)...

۶:- مدلازم حرفي مخفف :هر كله چي تر حروفِ مده وروسته د حروفِ مقطعاتو څخه هغه حروف راسي چي په تلفظ کي دوه

دوه حروف څني جوړيږي، ساكن وه مشدد نه وه دلته نو مد لازم حرفي مخفف كيږي، لكه:- د سورت يوسف په سر كي (الرا).

۷:- مدلازمي: و هغه مد ته ويل کيږي چي د مده يا د لين د توري څخه وروسته لازمي سکون راغلئ وي .

لکه :- ﴿ نٓ ۚ وَٱلۡقَلَمِ، الٓمٓ ، ﴾ .

۸:- عارضي مد : عارضي مد و هغه مد ته ويل کيږي چي د مد سبب يې عارضي وي يعني د مد د توري څخه وروسته سکون عارضي

وي يعني د وقف له كبله منځ ته راغلی وي كله : ﴿ نَسۡتَعِينُ ،خَـٰطِـِٔينَ ، مُسۡتَهۡزِءُونَ، ٱلرَّحِيمِ﴾ د وقف په حال کي .

د عارضي مد اندازه : د مد په اندازه کي يې درې طريقي سته :-

لومړۍ طريقه :- داچي طول پکښي وسي يعني درې الفه مد پر وسي چي شپږ حرکته کيږي.

دوهمه طريقه :- داچي توسط پکښي وسي يعني څلور حرکته مد پر وسي .

دريمه طريقه :- داچي قصر پکښي وسي يعني دوه حرکته مد پرې وسي البته دغه عارضي مد يوازي د وقف يعني د دربدو په

وخت کښي راځي .

د مد عارض وجوهات څلور حالات سورة الفاتحه :-

فصل کل					
کلمه	الرجيم	الرحيم	العالمين	الرحيم	يوم الدين
موقوف عليه حرف	ميم مكسوره	ميم مكسوره	نون مفتوح	ميم مكسوره	نون مكسوره
ضربي وجوهات	×۴	×۱۶=۴	×۴۸=۴	×۱۹۲=۳	×۷۶۸ =۴
کلمه	نستعين	المستقيم	الضالين		
موقوف عليه حرف	نون مضموم	ميم مفتوح	نون مفتوح		
ضربي و جوهات	×۵۳۷۶=۷	×۱۶۱۲۸=۳	۴۸۳۸۴=۳		

ستاسو ورور احمدياسير د دعاء په اميد دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصل کل

کلمه	الرجيم	الرحيم	العالمين	الرحيم	يوم الدين
موقوف عليه حرف	ميم مکسوره	ميم مکسوره	نون مفتوح	ميم مکسوره	نون مکسوره
ضربي و جوهات			×۳	×۱۲=۴	×۴۸ =۴
کلمه	نستعين	المستقيم	الضالين		
موقوف عليه حرف	نون مضموم	ميم مفتوح	نون مفتوح		
ضربي و جوهات	×۳۳۶=۷	×۱۰۰۸=۳	۳۰۲۴=۳		

فصل اول وصل ثاني

کلمه	الرجيم	الرحيم	العالمين	الرحيم	يوم الدين
موقوف عليه حرف	ميم مکسوره	ميم مکسوره	نون مفتوح	ميم مکسوره	نون مکسوره
ضربي و جوهات	×۴		×۱۲=۳	×۴۸=۴	×۱۹۲ =۴
کلمه	نستعين	المستقيم	الضالين		
موقوف عليه حرف	نون مضموم	ميم مفتوح	نون مفتوح		
ضربي و جوهات	×۱۳۴۴=۷	×۴۰۳۲=۳	۱۲۰۹۶=۳		

وصل اول فصل ثاني

کلمه	الرجيم	الرحيم	العالمين	الرحيم	يوم الدين
موقوف عليه حرف	ميم مکسوره	ميم مکسوره	نون مفتوح	ميم مکسوره	نون مکسوره
ضربي و جوهات		×۴	×۱۲=۳	×۴۸=۴	×۱۹۲=۴
کلمه	نستعين	المستقيم	الضالين		
موقوف عليه حرف	نون مضموم	ميم مفتوح	نون مفتوح		
ضربي و جوهات	×۱۳۴۴=۷	×۴۰۳۲=۳	۱۲۰۹۶=۳		

۹:- مدبدل :هغه مد ته ويل کيږي چې همزة يې پر حرف مد مخکي وي او دوه حرکته مد پر کيږی لکه : ﴿ أُوتُواْ ، ءَادَمَ ، ءَازَرَ ﴾ .

دمدبدل دنوم ايښودلو لامل : مد بدل ته له دې امله مد بدل ويل کيږي چې پـه زياتو ځاينو کـې حرف مـد د هـمـزة ځخه بـدل راغلی وي د اکثريت په اعتبار سره مد بدل ورته ويل کيږي که څه هم په ځينو ځاينو کي حرف د همزة څخه بدل نه وي راغلی لکه :﴿ قُرۡءَانَ ﴾ په سورة اسراء ۷۸ شـميره آية کي او لکه : ﴿ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ د سورة بقرة په ۴۰ شميره آية کي .[7]

(وروستني مدونه (د مد لقبونه))

۱:-تمکين:- و هغه مد ته وايي چي په يوه ځای کښي دوې ياء ګاني وي لومړی يې متحرکه مشـدده او دوهمه يې سـاکنه وي .

لکه: ﴿ عِلِّيِّينَ ، وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ ﴾ او د مد اندازه يې دوه حرکته ده ، د تمکين مـد ته ځـکه د تمکين مد ويل کيږي چـي تمکين د قدرت پـه معنی دئ او مشدد والي د ﴿ ياء ﴾ و يـاء تـه دا قـدرت ورکـوي چـي مـد پـرې وسـي .

۲:- عوض: و هغه مد ته ويل کيږي چي پر تنوين د نصب يعني دوو زورو باندي وقف وسي نوموړی تنوين په الف سره بدليږي او

7 : نهاية القول المفيد في علم التجويد ، غاية المريد في علم التجويد ص : ۹۹ ، غيث النفع في القراءات السبع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه حرکته مد پرې کيږي لکه : ﴿ مَوۡئِلاً ، هُدًى ، قَرِيبًا ﴾ چي دغه کلمې د وقف په حال کي ﴿ مَوۡئِلا ، هُدًا ، قَرِيبا ﴾ ويل کيږي.

يوا ځي چي پر تاء تانيث يعني گردی تاء ﴿ ة ﴾ باندي چي دوه زوره راسي هغه دوه زوره په الف سره نه بدليږي بلکي د غه تاء تانيث پـه ﴿ ه ﴾ سره بدليږي ، لکه : ﴿ بَقَرَةً ﴾ چي د وقف په وخت کښي ﴿ بَقَرَهْ ﴾ ويـل کـيږي .

۳:- دتعظيم مد : چي د درنښت لپاره وي لکه : ﴿ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَـٰنَكَ ﴾ ، همدا ډول دې مد ته د مبالغې مد هم وايي البته د غـه مـد د هغه چا پر مذهب باندي دی چي د منفصل مد قصر کوي ، النشر چي کومه حواله رانقل کړې ده په هغه کي د امام حفص رحمة الله عليه پر مذهب دغه مد نسته مگر الطيبة چي د امام حفص رحمة الله عليه مذهب رانقل کړې هغه ښيي چـي دده پر مذهب نوموړی مد سته .

۴:- مدفرق:- وهغه ته ويل کيږي چي د استفهام او د خبر د توپيرولو په موخه منځته راغلی وي لکه : ﴿ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ ﴾ الانعام ۱۴۳ آيـة او داسـي نـور.... [8]

۵:- صلة:- دصلة په اړه تفصيلي بيان مخکي تېـر سـو .

(وقـــف)

وقف يو ثابت سوئ قانون دی .

۱:- په آيت ،سره دليل (وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلاَ) د دې تفسيرحضرت عـلي (رض) په ، مُعْرِفَةِ التَّجْوِيْدِ اَوْ مُعْرِفَةِ الْوَقُوْفِ ، سره وکړی يعني پېژندل د تجويد دي او پېژندل د وقفو دي دا دی وقف پکښي ذکر سو.

۲:- حديث شريف سره دليل حضرت عبدالله بن عمر ﷺ وايي چي پر پېغمبر ﷺ باندي کله قرآن شريف نازل سو ده مبارک بـه موږ ته وويلی او بيا به موږ پوښتنه ور ځخه وکړه چي موږ پر کومو ځايو باندي وقف وکړو ده مبارک به هغه ځايونه را ښوول .

دوقف لغوي معنی : وقف پـه لـغـت کـښـي بـنـدوالي ، درېـدل ، تـه وايـي .

دوقف اصطلاحي معنی : وقف په اصطلاح کښي د کلمې وروستی توری ساکنول دي چي د ساه او ږغ پـرېـوالـی ورسره کـيـږي .

د وقف او وصل ترمنځ حالت ته سکته وايي يعني د وقف په وخت کي ساه او ږغ دواړه پـرې کـيـږي او نـوې سـاه اخستل کيږي مگر د وصل په وخت کي ساه او ږغ نـه پـرې کـيـږي او نـه سـاه تـازه کـيـږی .

دوقف حکم : د قـرانـکريـم پـر الـفـاظـو وقـف کـول جـائـز دي الـبـتـه چـي مـانـع شـتـون ونـه لـري يـعـنـي پـر داسـي ځـای وقـف کـول نـه وي چـي مـعـنـٰی تـه تـاوان پـکـښـي رسـيـږي .

(دوقف ډولونه)

وقف پر څلور ډوله دئ چي د لاندي ډولونو ځخه عبارت دي :-

۱ - اختباري وقف ، ۲ - اضطراري وقف ، ۳ - انتظاري وقف ، ۴ - اختياري وقف .

8 : من کتاب الاضاءة ص : ۲۴ بتصرف . النشر ج : ۱ ص : ۴۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اختباري وقف تعريف: اختباري وقف د هغه وقف څخه عبارت دئ چي قاري پر داسي ځای باندي وقف وکړي چي اصلاً د وقف ځای نه وي بلکي د نوموړي وقف څخه يې موخه دا وي چي وقف د تعليم لپاره وکړي او يا دغه ځای د اختبار لپاره وي البته دغه وقف په اثبات د حرف وکړي .

لکه :- ﴿ ايدي ﴾ لفظ په ﴿ واذکر عبدنا ابراهيم و اسحق و يعقوب اولي الايدي ﴾ چي وقف په اثبات سره سوی دئ يعني وروستی ياء حذف سوې نه ده بلکي ثابته پاته سوې ده .

او يا وقف په حذف سره سوي وي لکه :-﴿ واذکر عبدنا داود اذ الايد﴾ چي دلته هم د ايد پر لفظ باندي وقف سوی دئ البته ياء حذف سوې ده ، و نوموړي وقف ته له دې امله اختباري وقف ويل سوی دئ چي قاري د دې وقف په مټ اورېدونکي ته دجواب اخبار (خبر) ورکوي .

د اضطراري وقف تعريف :و هغه وقف ته ويل کيږي چي لوستونکئ دساه تنګۍ يا د نورو ستونزو له امله وقف ته ضرورت پيداکړي په دې صورت کي لوستونکي ته وقف کول جائز دي مګر هڅه دي وکړي چي پر هغه کلمه باندي وقف وکړي چي د معنٰی فساد پکښي منځته رانسي او د وقف څخه وروسته دي له يوې مخکنی مناسبي کلمې څخه پيل وکړی لکه د ضرورت په وخت کي وقف د ﴿ ٱلۡفَحۡشَآءِ ﴾ پرکلمه باندي د ﴿ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ ﴾ په مبارك آيت کي لوستونکي ته پکارده چي د اضطرار د لري کېدو وروسته نوموړی مبارك آيت له سر څخه شروع کړي .

يعني د ﴿ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ ﴾ څخه بايد شروع وکړل سي .

و نوموړي وقف ته ځکه اضطراري وقف ويل سوی دئ چي اضطرار اړتيا ته وايي دلته هم قاري وقف کولو ته اړ سوی دئ .

د انتظاري وقف تعريف : د هغه وقف څخه عبارت دئ چي پر داسي کلمة باندي وقف وکړل سي چي د قاريانو ترمنځ يې په تلفظ کي اختلاف وي د دې لپاره وقف وکړي تر څو دا په ډاګه سي چي قاري د کوم قراءة تقليد کوي .

انتظاري له دې امله ورته ويل سوی دئ چي استاذ شاګرد ته انتظار کوي چي کوم ډول قراءة وايي .

د اختياري وقف تعريف : د هغه وقف څخه عبارت دئ چي لوستونکی په خپله خوښه پر يو ځای باندي وقف وکړي پرته له دې چي د سوال جواب ووايي او يا وقف کولو ته اړسي .

ځکه ورته اختياري وقف ويل کيږي چي لوستونکی نوموړی وقف په خپل اختيار باندي کوي .

(د اختياري وقف ډولونه)

پاته دي نه وي چي نوموړي وقف پر ٥ ډولونو باندي وېشل سوی دئ چي د لاندي ډولونو څخه عبارت دي :-

١-تام وقف ، ٢- حسن وقف ، ٣- کافي وقف ، ۴- قبيح وقف ، ٥- صحيح .

١-تام وقف : هغه وقف ته ويل کيږي چي کلام لفظاً او معناً د دغه وقف په پای سره پوره کيږي او د ما بعد سره تعلق ونه لري .

لکه :- ﴿ قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ﴾ .

٢-حسن وقف : و هغه وقف ته ويل کيږي چي کلام د معنٰی له پلوه پوره وي مګر د لفظ په لحاظ د ما بعد سره تړاو ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هغه باندي وقف کول ښه دي مگر احسن ﴿ ډېرښه ﴾ وصل له ما بعد سره دئ لکه ﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ﴾ چـي وقـف د لله پـه کلمه بـانـدي حـسن ﴿ ښـه ﴾ دئ مـگـر وصـل د ﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ سـره احـسن ﴿ ډېـرښـه ﴾ دئ .

۳- کافی وقف : و هغه وقف ته ویل کیږي چـي کلام د لفظ لـه پلوه پوره وي مگر د معنی پـه لحاظ د ما بعد سره اړه ولـري چي وقف پر هغه کافي او ښه دئ لکه پـه ﴿ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ﴾ پـه دې ځای کښي وقف کافي او ښه دئ .

۴- قبیح وقف : و هغه وقف ته ویل کیږي چي کلام د معنی او لفظ له پلوه د ما بعد سره ټینگه او کلکه اړه ولري او د وقـف لـه کبله د دې مبارك آیت په معنی کښـي فاحـش ﴿ بد ﴾ بـدلـون منځته راځي لکه په ﴿ وماخلقت الانس والجن الالیعبدون ﴾ کي چـي پـه دې مـبارك آیت کي د و ﴿ وَالْاَنْس ﴾ پـر کلمه بـانـدي وقـف وسـي دا وقـف قـبـیـح دئ .

۵- صحیح وقف : چـي پـر رمـوز بـانـدي وقــف وسـي لـکـه:- (ط ، ج ، ص) او داسي نور...

(د وقف په حالتونو کي بدلون)

د وقف په حالتونو کي بدلون پر څلور ډوله دئ چي د لاندي ځایونو څخه عبارت دي :

۱- وقف په اسکان سره: وقف په اسکان سره د کلمې د وروستي توري د ساکنولو څخه عبارت دئ البته چي حرکت ولري لکه:- (ك) په﴿ فسبح بحمدربك ﴾کي چي ﴿ ك ﴾ زور لري په حالت د وقف کي﴿ فسبح بحمد ربكْ ﴾ویل کیږي یعني په وړغندي سره ویل کیږي.

۲- وقف په ابدال سره : د حرف په بل حرف سره د بدلولو څخه عبارت دئ لکه د تانیث تـاء بدلول په ها بـانـدي لکه : ﴿صَلواة ﴾ چي د وقف په حالت کي حالت کي صلواهْ تلفظ کیږي ، او یاد دوو زورو بدلول دي پـه الـف سره لکـه : ﴿ رَحِيمًا ، شُكُورًا ﴾ چـي د وقـف پـه حالـت کي ﴿ رَحِیْمَا او شَکُوْ رَا ﴾ ویل کیږي .

۳- وقف له اشمام سره: اشـمـام د تجوید په علم کي عبارت دئ د توری له ساکنولو څـخـه د وقـف پـه حـالت کي سره د شـونډو د اشـارې د پـېښ ولـوري ته وي لکه په آخرني ﴿ ن ﴾ د ﴿ نَسۡتَعِينُ ﴾ کي چي د وقف په وخت کي شونډي پرې راټولیږي او د ضمې لوري ته بې له ږغه څخه اشاره کیږي .

۴- روم : د حرکت د دریمي برخي له تلفظ کولو څخه عبارت دئ ، یعني دا چي د وقف په وخت کي د حرکت دوه ثلثه(دریمي)ساقط کړي او یو ثلث (دریمه) تلفظ کړي .

یـادونـه : اصل په وقفونو کښي اسکان دئ پاته دي نه وي چي روم او اشمام په اصلي حرکت کښي تر سره کیږي نه په عارضي حرکاتو کښي او همدا ډول پـر ګردی تا باندي هم روم او اشمام نه کیږي یعني پر عارضی حرکاتو او ګردی تـاء بـانـدي اشـمـام او روم نا جائـز دئ بله خبـره داده چـي روم پـه ضمه او کسره دواړو کي تر سره کیږي او اشمام یوازي په ضمه کي اجراء کیږي .

(د وقف علامې)

د وقف ځایونو ته پاملرنه د تجوید د علم له مهمو برخو څخه شمېرل کیږي د وقف علامې په لاندي ډول دي :-

۱-م : د لازم وقـف علامه ده د وقف نـه کـولو پـه صـورت کښـي پـه معنی کي نیمګړتیا یـا تـاوان پیـداکـیـږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-ط : د مطلق وقف علامه ده یعني وقف کول احسن دئ یعني ډیره ښه دئ له دې ځایه څخه باید تیر نسو .

۳-ج : د جائز [کافي] وقف علامه ده پـه دې ځـای کي وقـف او وصـل دواړه روادي مـګـر وقف ښـه دئ .

۴-ز : د مجوزو قف علامه ده چي وقف او وصل یې دواړه جائز دي مـګرپـه وصل سره ویل یې ښـه دي .

۵-ص: د مرخص وقف علامه ده په ځینو ځایونو کي چي آیات شریف اوږد وي او نفس [ساه] د لوستلو د دوام توان ونه لـري- کولای سي چي په دې کلمة باندي وقف وکړي بې له دې څخه چي لوستل سوې کلمة بیا تکرار سي .

۶-لا : د قبیح وقف علامه ده ځکه پـه دې ځای باندي په وقف کولو سره معنٰی توپیر کوي نو پکارده چي وقف ونه سي، که چیري د نفس دنه رسېدوله امله وقف وسو نو لازمه ده چي وقف سوې کلمه له سره شروع کړي مگر د آیات په آخر کي داحکم نه دئ.

۷-ک : د کذالك په معنٰی دئ یعني د مخکي آیات د حـکـم په شان دئ .

۸-ق : د اعلامه چي د ځینو علماوو په آند دلته وقف کول جائز دي خو وقف نه کول ښه دي .

۹-قلا : یعني وقفه مه کوئ .

۱۰-قف : یعني وقف وکړه .

۱۱-صلي : یعني وصل وکړه وصل تر وقف غوره دئ .

۱۲-وقفه: د اوږدې سکتې علامه ده او د قرأت د علم په اصطلاح کي سکته او وقفه سره قریب المعنٰی ﴿ په معنٰی کي نژدې دي ﴾ مـګـر پـه اصطلاح کي سکـتـه وصـل ته او وقفه وقـف تـه نـژدې ده .

۱۳-س : د سکتې علامه ده چي ږغ یې د ساه څخـه پـریـکوي .

۱۴-﴿۝﴾: دائره د مطلق آیات علامه ده کـه چیري فقط دا علامه وي وقـف دي وکړل سي او که چیري پر سر یې ﴿ لا ﴾ وي بیا یې وصل هم جائز دئ .

۱۵- ۵ : د نومورې علامې حکم د دائرې د علامې د حکم په څېر دئ .

۱۶-صل : یعني وصل وکړه .

۱۷- ۛ :- د معانقه وقف علامه ده چي په حاشیه کي ﴿ مع ، یا معًا ﴾ لیکل سوی وي .

معانقه :- پـه لغت کي دغـاړې کیدلو او یو د بل سره غیږ پـه غیږ کیـدلو تـه وایـي .

مګر په تجوید کي کله چي دوه وقفونه څنګ پرڅنګ راغلي وي هغه ته معانقه وقف ویل کیږي .

د معانقې حکم:- حکم یې دادئ چي که چیري په اوله کـلـمـه کي وقـف وکړو دوهمه کلمة باید پـه وصل سره ولـوستـل سي .

د مثال په ډول ﴿ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ په هر ځای چي تلاوت کونکئ و دریږي پر هغه بل ځاي بـه نـه دریږي او نه به پر دواړو ځایونو وقف کوي او نه به پر دواړو ځایو باندي وصل کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د معانقې شمېر په قرانکریم کې)

دا چې معانقه به په قرآنکریم کې څو ځایه راغلې وي علماء یې په اړه په یوه خوله نه دي بلکې د متقدمینو په آند معانقه په قرآنکریم کې شپاړس ځایه راغلې ده چې وروسته به یې ځایونه په ګوته سي او د متاخرینو علماؤ له آنده د دغه شپاړسو ځایونو تر څنګ اتلس ځایه نوره هم راغلې ده .

په لاندي جدولونو کې په لومړی جدول کې هغه شپاړس ځایونه مطالعه کړئ چې د متاخرینو او متقدمینو علماؤ پرې اتفاق دئ او په دوهم جدول کې هغه اتلس ځایونه مطالعه کړئ چې یوازي د متاخرینو علماؤ له آنده معانقه سته او د متقدمینو له آنده پر نوموړو ځایونو باندي معانقه نسته البته دغه جدولونه په خپل وارسره کتلای سئ:-

هغه ځایونه چې د متقدمینو او متاخرینو علماؤ پرې اتفاق دئ			
شمېره	سورة	رکوع	آیة
۱	البقرة	۲٤	۱۹۵
۲	آل عمران	۱۷	۱۷۱
۳	المائده	٦	٤۱
٤	الاعراف	۱۱	۹۱
۵	التوبة	۱۳	۱۰۱
٦	ابراهیم	۲	۹
۷	الفرقان	۳	۳۲
۸	الفرقان	۵	۵۵
۹	الشعرآء	۱۱	۲۰۸
۱۰	الاحزاب	۲	۱۳
۱۱	الزخرف	۱	۲
۱۲	الدخان	۱	۲
۱۳	محمد	۱	٤
۱٤	الطلاق	۲	۱۰
۱۵	القلم	۲	٤۰
۱٦	المدثر	۲	۳٦

هغه ځایونه چې یوازي د متاخرینو له آنده معانقه پرې کیږي			
شمېره	سورة	رکوع	آیات
۱	البقرة	۱	۲
۲	البقرة	۱۱	٦٦
۳	البقرة	۸	۱۵۰
٤	آل عمران	۳	۳۱
۵	المائدة	۵	۳۱
٦	الاعراف	۲۱	۱٦۳
۷	الاعراف	۲۳	۱۷۲
۸	الاعراف	۲۳	۱۸۸
۹	هود	٤	٤٦
۱۰	الفرقان	۱	٤
۱۱	القصص	٤	۳۵
۱۲	الاحزاب	۸	٦۰
۱۳	المؤمن	۸	٦۹
۱٤	الدخان	۳	٤٤
۱۵	الفتح	٤	۲۹
۱٦	الممتحنة	۱	۳
۱۷	الانشقاق	۱	۱٤
۱۸	القدر	۱	٤

۱۸: وقف النبي(ص):- د نوموړي وقف چې په احادیثو کې یې د پیغمبر (ص) څخه ثبوت راغلی دی د دې ځای د صحابي څخه چې موږ په مسجد نبوی کې ناست وو چې پیغمبر (ص) تلاوت کوی چې د لته یې وقف وکړ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مثال يې (فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّکَ وَاسْتَغْفِرْهُ) النصر آية ۳ .

۱۹: وقف جبرائیل:- دا دغه معنی ورکوي چې جبرآئیل (ع) په تلاوت کولو کې ونبي کریم (ص) ته وقف کړی دی نو دا دوقف جبرآئیل په نامه یادیږي ، مثال يې (قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ) آل عمران ایة ۹۵ کې راغلئ دی .

۲۰: وقف غفران:- دا وقف د بخښـنې په معنی دی یعني د دې آیاتونو مضمون او تفسیر د بخښـني ایاتونه دي .

مثال يې (أَوَلَيْسَ الَّذِى خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِقٰدِرٍعَلٰى أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ) يس ایة ۸۱ .

۲۱: وقف منزل :- کله چې حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه ۷ کاتبان د قرآن الکریم لپاره مقرره کړه نوموړو کاتبانو قرآن عضیم الشان په اووه شپې او ورځې ولیکی نو هره شپه او ورځ ته يې وقف منزل ویل کیږي ، کوم چې د قرآن الکریم ۷ منزله بلل کیږي مثال يې په (سورة یٰس (۳۰) آیت) کې دی .

(د وقف ګټې)

په وقف کولو کې زیاتې ګټې نغښتي دي د مثال په ډول یو څو دانې يې په لاندي ډول وړاندي کوو :-

لومړی : ښکاره ده چې په یوه ساه سره ټوله مطلوبه تلاوت شونی نه وي وقف کول و تلاوت کونکي ته اجازه ورکوي تر څو د نوي ساه په اخستلو سره د بیا لپاره تلاوت پیل کړي او که د وقف اجازه نوي نو تلاوت کونکي ته به تلاوت کول ګران کار سي .

دوهمه ګټه : که چیري تلاوت کونکي ته په تلاوت کې یو ډول ستونزه پېښه سي کولای سي چې د وقف په مټ خپله ستونزه حل کړي او بېرته خپل تلاوت پیل کړي .

دریمه ګټه: وقف کول تلاوت کونکی د معنی د غلطئ څخه ژغوري د بیلګي په ډول که تلاوت کونکی پر لاندیني آیات باندي وقف و نه کړي په ښکاره غلطي (لحن جلي) کې به ښکېل سي : لکه ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٧ لِلۡفُقَرَآءِ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ ﴾ الحشر الایة ۷ - ۸ .

(وصــل)

وصل د دوو کلمو ربط یعني یو ځای کولو ته وایي او د وقف ضد دئ یا په بل عبارت وصل د دوو کلمو یو ځای کولو ته وایي په داسي ډول چې ږغ (آواز) او ساه پرې نه سي .

(سکتـــة)

سکتة د تلاوت په جریان کې د ساه اخستلو پرته د لږ وخت آواز بندولو ته وایي چې د غه آواز د یوې کلمې په ویلو سره بند کړي نو موږ ویلای سو چې پر دغه کلمه باندي سکته وسوه یا په بل عبارت د وقف او وصل منځنی حالت ته سکته وایي .

(د سکتې ډولونه)

سکتة پر دوه ډوله ده چې د لاندي ډولونو څخه عبارت دي :

۱:- معنوي سکتة **۲:- لفظي سکتة .**

۱- معنوي سکتة: په کومو ځایو کښي چې د دوو کلمو د یو ځای کېدو سره په معنی کښې د التباس د واقع کېدلو احتمال وي په هغو ځایونو کښي چې کومه سکتة کیږي هغې سکتې ته معنوي سکته وایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه:- ﴿ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا ﴿سکتة﴾ قَيِّمًا لِّيُنذِرَ ، مِن مَّرْقَدِنَا ﴿سکتة﴾ هَٰذَا ، وَقِيلَ مَنْ ﴿سکتة﴾ رَاقٍ ، كَلَّا بَلْ ﴿سکتة﴾ رَانَ ﴾په ټوله قرآنکریم کښي داغه څلور ځایه معنوي سکتة سته .

۲- لفظي سکتة :- کله کله سکتة د همزې دصفا او محقق ادا کولو په غرض سره کیږي دې سکتې ته لفظي سکتة وایي او د حفص ﴿ رح ﴾ په طریقه سره په قرآنکریم کي هیڅ ځای لفظي سکته نسته .

(اجتماع ساکنین)

(د دوو وړغندی لرونکو تورو یو ځای کېدل)

د ساکنینو اجتماع یعني د دووساکنو حروفو یو ځای کېدل چي په یوه کلمة کي وي یا په دوو کلمو کي وي پر دوه ډوله دي چي د لاندي ډولونو څخه عبارت دي:-

۱:- علی حده ۲:- علی غیر حده .

۱- علی حده : علیٰ حده اجتماع دې ته وایي چي اول ساکن توری مده وي او دواړه ساکن توري په یوه کلمة کښي وي ، د ساکنینو دغه اجتماع علیٰ حده ده یعني پر خپله اندازه او حالت باندي برابره ده او دغه د ساکنینو اجتماع رواده لکه: ﴿ ءَآلْـَٰٔنَ ، الٓمٓ ﴿١﴾ ،وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾ تَعۡلَمُونَ ﴾ .

البته د دې دوو شرطونو په شتون کښي او که یو د دې دوو شرطونو څخه موجود نه وي نو د ساکنینو اجتماع علیٰ غیر حده اجتماع ده نوموړي اجتماع جائز نه ده .

۲- علی غیر حده: علیٰ غیر حده دې ته وایي چي اول ساکن توری مده وي او دواړه ساکنه په یوه کلمة کښي نه وي او یا اول ساکن توری مده نه وي یا دواړه ساکنان په یوه کلمة کښي نه وي د غه د ساکنینو اجتماع علیٰ غیر حده اجتماع ده یعني د خپل حالت او اندازې څخه وتلې او د غه د ساکنینو اجتماع نه ده جائز .

(د ساکنینو علی غیر حده اجتماع د پاي ته رسېدو لاري)

د ساکنینو علیٰ غیر حده اجتماع په څو لارو سره پاي ته رسیږي چي د لاندینیو لارو څخه عبارت دي :-

لومړی : که چیري په دوو ساکنو تورو کښي اول ساکن توری مده وو خو دوهم ساکن په بله کلمه کښي وو اول ساکن یعني مده توری حذفیږي ، لکه : ﴿ أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ، وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ .

دوهمه : که چیري په دوو ساکنو تورو کښي اول ساکن توری د جمعي میم وو ضمه(پېښ) ورکول کیږي لکه:﴿ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ ﴾.

دریمه : که چیري په دوو ساکنو تورو کښي اول ساکن توری د لین واو وو البته دغه واو دجمع لپاره راغلی وو دغه واو ته هم ضمه (پېښ) ورکول کیږي ، لکه : ﴿ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ ﴾ .

څلورمه : که چیري په دوو ساکنو تورو کښي اول ساکن توری د حروف جرمِنْ وو یعني د مِنْ نون وو لومړی ساکن یعني نون ته زور ورکول کیږي . لکه : ﴿ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٍ ﴾ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځمه : که چیري په دوو ساکنو تورو کښي اول ساکن توری د ﴿ الٓمٓ ﴾ میم وو هغه ته هم زور ور کول کیږي .

لکه : ﴿ الٓمٓ ۝ اللّٰهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ .

شپږمه : که چیري په دو ساکنو تورو کښي په پورتنیو صورتونو کښي یو لاهم نه وو نو بیا اول ساکن توري ته زېر ورکول کیږي .

لکه : ﴿ قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ ، أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَـٰنَ ، إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ ، أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ﴾ .

(د همزې بیان)

همزة د هجاء د تورو څخه یو توری دئ چي کله د الف په بڼه لیکل کیږي او کله د عین د سر په څېر لیکل کیږي پر دوه ډوله ده چي د لاندي ډولو څخه عبارت دي :-

۱-وصلي همزة : هغه همزة ده چي د کلام په پیل کي ثابت پاتیږي ، په درج کي ساقطیږي او د وصل په حالت کي حذفیږي .

نوموړې همزة په اسم ، فعل او حرف دریو سرو کي راځي .

وصلي همزة په فعل کي : فعل پر درې ډوله دی چي د ماضي ، مضارع او امر څخه عبارت دئ .

وصلي همزة په ماضي او امر کي راځي او په مضارع کي نه راځي ، ماضي چي ثلاثي ، رباعي ، خماسي او سداسي راځي خو دغه همزة په خماسي او سداسي ماضي کي راځي د خماسي مثال لکه :-[ان الله اصطفیٰ ءآدم ونوحا].

د سداسي مثال لکه : -[واذ استسقٰي موسیٰ لقومه] .

وصلي همزة په امر کي راځي البته په ثلاثي ، خماسي او سداسي صیغو کي .

د ثلاثي مثال لکه : [ادع الي سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة] د خماسي مثال لکه : [فقلنا اضرب بعصاک الحجر] .

د سداسي مثال لکه : [فقلت استغفروا ربکم انه کان غفارا].

په فعل کي د وصلي همزې حکم : کومه وصلي همزةچي په فعل کي راسي هر ډول فعل چي وي یعني ماضي وي او که امرو و دریم حرف ته یې کتل کیږي که یې دریم حرف پېښ لرونکی وو د غه همزة به مضمومه وي لکه : [اُدع]اوکه یې دریم حرف زېر لرونکی وو د غه همزة به مکسوره وي لکه [اضرب] .

که یې دریم حرف زور لرونکی وو د غه همزة زېر لرونکې راځي لکه : [اِذْهَبْ] .

پاملرنه : پاته دي نه وي چي که په فعل کي دریم حرف زور لرونکۍ وو همزة یې زېر لرونکې راځي او زور لرونکې نه راځي لامل یې دا دئ چي که چیري زور لرونکې راسي د مضارع سره به ورته والی رامنځته سي یعني دغه نوموړی فعل به د مضارع څخه نه توپیریږي ځکه په مضارع کي وصلي همزة نه راځي .

وصلي همزة په اسم کي : وصلي همزة په اسم کي پر دوه ډوله راځي چي د لاندي ډولونو څخه عبارت دي :-

۱:- قیاسي **۲:-سماعي** .

قیاسي وصلي همزة : قیاسي وصلي همزة د خماسي او سداسي فعلونو په مصدرنو کي راځي د خماسي مثال لکه :[وحرموا مارزقهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله افتراء علي الله] او د سداسي مثال لكه : [والله عزير ذوانتقام] .

د قياسي وصلي همزې حكم : پـه دغـو ځـايـونـو كې چې همزة په پيل كې راسي كسره يې واجـب ده .

سماعي وصلي همزة : سماعي وصلي همزة په قرانكريم كې په اوو اسمونو كې راځي چې د لاندي ځايونو څخه عبارت دي :

﴿ ابن ـ ابنة ـ امرؤ ـ امرأة ـ اثنين ـ اثنتين ـ اسم ﴾ مـثـالـونـه يې پـه لانـدي ډول دي .

د سماعي وصلي همزې مثالونه			
كلمة	مثال	سورة	آيات
ابن	[اسمه عيسي ابن مريم وجيها في الدنيا والاخرة]	آل عمران	٤٥
ابنت	[ومريم ابنت عمران]	التحريم	١٢
امرؤ	[ان امرؤ هلک ليس له ولد]	النسآء	١٢٨
امرآت	[وضرب الله مثلا للذين ءامنوا امرت فرعون]	التحريم	١١
اثنين	[اثنان ذوا عدل]	المائدة	١٠٦
اثنتين	[فانفجرت منه اثنتا عشرة عينا]	البقرة	٦٠
اسم	[ومبشرا برسول ياتي من بعدي اسمه احمد]	النصف	٦

د سماعي وصلي همزې حكم : د نـومـوړي هـمـزې حـكـم دا دی چې پـه ټـولـو ځـايـونـو كې بـه زېـر لرونـكې راځـي .

يـادونـه : قياسي وصلي همزة و دې تـه وايـي چې د قانون لمخي همزة په لفظ كې راغلې وي او دليل پرې موجود وي او سماعي وصلي همزة ودې ته وايي چې د قانون لمخي منځته نه وي راغلې بلكې د عربو څخه يې اورېدنه سوې وي .

وصلي همزة په حرف كې : وصلي همزة په حرف كي يوازي پـه ال كي راځـي .

كلمة كله پرته له ال څخه راتلای سي او كله نه سي راتلای چې مخكې يې پوره بيان وسو .

پـه حـرف كـې د وصـلي هـمـزې حـكـم : پـه حرف كې چې وصلي همزة راسي تل به زور لرونكې وي بل هيڅ حركت نه قبلـوي .

(قطعي همزة)

٢:- قطعي همزة : هغه همزة ده چې د كلام په درج كې نه حذفيږي بلكې په پيل كې هم ويل كيږي او په وصل كې هم ويل كيږي لكه همزة د ﴿ أَنۡعَمۡتَ ﴾ ځكه ورته قطعي همزة ويل كيږي چې نوموړې همزة د وينا پر مهال حروف قطعه كـوي يعني پـرېكـوي يې ، همدا ډول نوموړې همزة زور لرونكې راځي لكه پورتنۍ مثال، زېر لرونكي راځي لكه [انا] ، پيښ لرونكي راځي لكه:[أُتوا] ، د كلمې په سر كې راځي لكه پـورتـنـي مثـالونه يې ، په منځ كې راځي لـكـه : [سئلت] او پـه پـای كـې راځـي لـكـه : [جآء] .

د همزې حكمونه :- همزة څو حكمونه لري چې ځيني يې په لاندي ډول دي :-

١:- حذف: حذف و دې ته وايې چـې همزة له منځه ولاړه سي لكه : [اَعِدُ] چـې په اصل كې [آاَعِدُ] يعني دوې همزې وي خو د صرفي قـانـون لمـخـي يـوه هـمـزة حـذف سـوه .

٢:- تسهيل : تسهيل و دې ته وايې چې همزة دهمزې او د ماقبل د حركت څخه د پيداكېدونكۍ حرف تر منځ وي مثلاً زور څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیداکېدونکئ توری الف دئ او د پېښ څخه پیداکېدونکئ توری واو دئ او د زېر څخه پیداکېدونکئ توري یاء ده لکه: ﴿ ءَاْعْجَمِيٌّ ﴾.

۳:- ابدال : ابدال دې ته وایې چې همزة د علت په توري ﴿ حرف مده ﴾ سره بدله سي لکه: ﴿ ءَامن، إِيمَنًا، ٱؤْتُمِنَ ﴾ .

د همزې او الف توپیر : الف هغه توری دئ چې تل وړغندی لرونکئ وي او بېله ژب بندئ ادا کيږي او همزة هغه توری دئ چې حرکت قبلوي خو کوم وخت چې ساکن سي د ادا پرمهال بېله ژب بندئ نه ادا کيږي .

(همزة په اعتبار د محل)

همزة په اعتبار د محل پر دوه قسمه ده چې په لاندي ډول ده:-

۱:- همزة اصلي **۲:- همزة زائده**.

۱:- همزة اصلي : هغه همزة ده چې په مقابل د (ف ، ع ، ل) راغلې وي ، لکه : (امر ، سآل ، قرآ) .

۲:- همزة زائده :هغه همزة ده چې په مقابل د(ف ،ع ، ل)کي نه وي راغلې، لکه : (اکرم) كَرَمَ اصلي حروف دي او همزة زائده راغلې ده .

(همزة په تفصیلي ډول)

همزة په تفصیلي ډول پر ۵ قسمه ده :-

۱:- چې دواړه همزې متحرکي قطعي وي ، لکه :(ءانزل) .

حکم يې : باید تسهیل په کښي وکړه سي .

۲:- چې دواړه همزې متحرکي وي چې اوله يې متحرکه قطعي او دوهمه يې متحرکه وصلي وي ، لکه:(ءاستکبرت ، ءاطلع) .

حکم يې: بايد حذف اجرا سي .

۳:- چې اوله همزة متحرکه قطعي او دوهمه يې غير متحرکه وي ، لکه :(ءآمن ، ءایمان) نو ویل یې داسي دي (آمن ، ایمان) .

حکم: باید حذف او ابدال اجرا سي .

۴:- چې دواړه متحرکه وي اوله همزة قطعي او دوهمه همزة وصلي وي، لکه:(ءالله ، ءالئٰن) نو ویل یې داسي دي(الله ، اٰلئٰن) .

حکم يې: تسهیل او ابدال باید وسي .

۵:- چې اوله همزة متحرکه وصلي او دوهمه همزة غير متحرکه وي ، لکه : (رءایتموني) .

حکم: باید حذف او ابدال اجرا سي .

(های ضمیر)

های ضمیر:- هغه هاء ته ویل کيږي چې نوموړي څلور شرطه په کښي داخل وي لکه:-

۱:-نوموړې ها به د کلمې په اخر کي موجوده وي ، په مينځ یا د کلمې په سر کي به نه وي.

۲:-نوموړې هابه د مذکر ها يي د مونث ها به نه وي .

۳:- نوموړې ها به پر اصلي حروفو نه وي راغلې (زائده) به وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴:-نوموړې ها به په ماقبل کي مرجع ولري یعني یوشي ته به راجع کیږي .

د های ضمیر لپاره څلور قواعد موجود دي ، چي دوه قواعد د حرکت په هکله دي او دوه قواعد نور د صلې په هکله دي:-

۱:- که چیري د های ضمیر څخه مخکي کسره یا یایي ساکنه وه نو های ضمیر مکسوره لوستل کیږي .

لکه :- (بِهِ الیهِ) مګر د دې قاعدې څخه څلور ځایونه مستثٰنی دي ، چي په دوو کلمو کي مضمومه لوستل کیږي او په دوو کلمو کي ساکنه لوستل کیږي ، په کومو کلمو کي چي مضمومه لوستل کیږي هغه دا دي.

۱: (وما انسٰنیهُ)په سورة الکهف کي ۲: (علیهُ الله) په سورة الفتح کي .

هغه ځایونه چي ساکنه په کښي لوستل کیږي ، ۳: (ارجه)دوه ځایه په سورت اعراف کي ۴: او (فالقه)په سورت النمل کي.

۲ قاعده:- که د های ضمیر مخکي نه کسره وه او نه یایی ساکنه وه نوموړې ها مضمومه لوستل کیږي ، لکه:(اخاهُ ، رآیتموهُ)

مګر د دې قاعدې څخه یوه کلمه مستثٰنی ده چي په هغه کي مکسوره لوستل کیږي هغه دا ده(ویتقه) په سورت النو رکي .

۳ قاعده:- که چیري د های ضمیر مخکي او وروسته حرکت وو نو په های ضمیر کي صله کیږي که یې ماقبل مضموم ؤ نو صله د واو سره کیږي او که یې ماقبل مکسور ؤ نو صله د یا سره کیږي ، لکه (امره الی الله بوجهه سؤء العذاب)مګر د دې قاعدې څخه هم یوه کلمه مستثٰنی ده چي هغه (یرضه لکم) په سورة الزمر کي .

۴ قاعده:- که د های ضمیر مخکي او وروسته دواړه ساکن وه یا یې وروسته ساکن موجود ؤ نوپه دې دریو صورتونو کي صله نه کیږي ، لکه (منه الماء ، یعلمه الکتاب ، منه ایت) مګر یوه کلمه چي (فیه مهانا) ده د دې قاعدې څخه مستثٰنی ده .

(قطع)

قطعه:- په لغات کي پرې کولو ته وایي ، او د تجوید په اصطلاح کي د تلاوت ختمولو ته قطعه وایي .

د وقف او قطعي ترمنځ فرق دا دی چي د وقف وروسته د تلاوت اراده موجوده ده ، او په قطعه کي وروسته اراده موجوده نه وي ، نو قطع داسي ځای کول پکار دي چي سورة ختمه سي یا په سورت کي یو واقعه ختمه سي .

(په قرآن الکریم کي د هجاء د توروشمېر)

د قرآن الکریم ټوله حروف درې سوه درویشت زره ، شپږ سوه ، یو اویا حرفه دي (۳۲۳۶۷۱).[9]

د (الف) حرف (۴۸۸۷۲) ځلي په قرانکریم کي راغلی دی

د (ت) حرف (۱۱۱۹) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ج) حرف (۳۲۷۳) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (خ) حرف (۲۴۱۶) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ذ) حرف (۴۶۹۷) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ز) حرف (۱۵۹۰) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د(ش) حرف (۲۲۱۵۳) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ب) حرف (۱۱۲۲۸) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ث) حرف (۱۲۷۶) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ح) حرف (۹۷۳) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (د) حرف (۵۶۴۲) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ر) حرف (۱۱۷۹۳) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (س) حرف (۵۸۹۱) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د(ص) حرف (۲۰۱۳) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

9: وجمیع حروف القرآن ثلاثمائة ألف حرف وثلاثة وعشرون ألف حرف وستمائة حرف وأحد وسبعون حرفاً. الاتقان ج : ۱ ص : ۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د(ض) حرف (۱۶۲۰۷) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (ظ) حرف (۸۴۳) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (غ) حرف (۲۲۰۸) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ق) حرف (۶۱۸۱۳) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (ل) حرف (۳۴۳۲) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ن) حرف (۲۶۵۶۰) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د(هـ) حرف (۹۱۷۰) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (ي) حرف (۲۵۹۱۹) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (ط) حرف (۱۲۷۴) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (ع) حرف (۹۲۰۰) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د(ف) حرف (۸۴۹۹) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (ك) حرف (۹۵۲۲) ځلي په قرآنکریم کي راغلی دی

د (م) حرف (۳۶۵۳۵) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (و) حرف (۲۵۵۳۶) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

د (لا) حرف (۳۷۲۰) ځلي په قرآنکریم کې راغلی دی

(په قرآن الکریم کي حرکات ، مدونه ، شدونه...)

د قرانکریم ټوله زورونه (۱۳۰۳٦۰) دي

د قرآنکریم ټوله پېښونه (٤۲۲۷٦) دي

د قرآنکریم ټوله ټکي (۱۵۰۵٦٤) دي

د قرآنکریم ټول منفصل مدونه (۳۰۱۵) دي

د قرآنکریم ټوله زېرونه (۵۱۲۷٦) دي

د قرآنکریم ټوله شدونه (۲۴۶۹۷) دي

د قرآنکریم ټوله متصل مدونه (۲۱۰۱) دي

د قرآنکریم ټوله وړغندي (۶۲۴۶۲) دي

(مشهور قرآءتونه)

د قراءة لپاره یو رکن دادئ چي په سند رسېدلی قراءة به وي اوس خبره داده چي په سند رسېدلي قراءتونه کوم دي ؟
جواب دا دئ چي دا خبره یوه داسي خبره ده چي علماء کرام یې په اړه په یوه خوله نه دي بلکي ځني علماء کرام په دې آند دي چي مشهور قرآءتونه اوه دي ددې اوو قرآءتونه پرته پربله طریقه باندي تلاوت کول نه دي روا ځیني علماء په دې آند دي چي په سند رسېدلي قراءتو نه اوه نه دي بلکي تر اوو زیات دي او اوه په دې وجه مشهور سوي دي چي علامه شاطبي رحمة الله علیه جمعه کړي دي په هر صورت د ځینو مشهور قراءتونو معلومات رانقلوو تر څو په منځ کي یې هغه قراءة معلوم سي چي موږ یې پر لاره روان یو هغه ډله علماء چي مشهور قاریان اوه ګڼي هغه یې نومونه پدې ډول بیانوي :

(اووه مشهور قاریان)

۱:- عبد الله بن کثیر المکي الداري رحمة الله علیه .

۲:-نافع بن عبدالرحمان بن أبي نعیم المدني رحمة الله علیه .

۳:- عبد الله بن عامر الشامي رحمة الله علیه .

۴:- أبوعمروزبان بن العلاء بن عمار البصري رحمة الله علیه.

۵:- عاصم بن ابي النجودالاسدي رحمة الله علیه.

٦:- حمزة بن حبیب الزیات رحمة الله علیه .

۷- ابوالحسن علي بن حمزةالکسائي النحوي رحمة الله علیه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(عبد الله بن كثير المكي الداري)

عبد الله بن كثير المكي الداري رحمة الله عليه د اصحابانو په لړ کي د حضرت انس بن مالک ﷺ ، عبدالله بن زبیر ﷺ او ابوایوب انصاري ﷺ سره ليدلي دي د ده مبارک قراءة په مكة مكرمة کي زيات مشهور دئ او په ١٢٠ هـ سنه کي وفات سوی دئ .
کوم قاریان چي دده څخه يې روايت کړی دئ بزي او قنبل زيات پکښي مشهور دي .

(نافع بن عبدالرحمن بن أبي نعيم المدني)

نافع بن عبدالرحمان بن أبي نعيم المدني په خپله زمانه کي د اوياوو داسي تابعينوڅخه استفاده کړې ده چي هغوی حضرت ابي بن كعب ﷺ ،حضرت ابوهريرة ﷺ او حضرت عبدالله بن عباس ﷺ شاګردان وه د دوئ مبارکانو قراءة په مدينه منوره کي زيات مشهور وو نوموړي په ١٦٩ هـ سنه کي وفات سوی دئ ، د يادوني وړده چي د ده د قراءة په راويانو کي مشهور ابوموسیٰ قالون او ابوسعيد ورش وه ابوموسیٰ قالون په ٢٢٠ هـ سنه کي وفات سوی دئ او ابوسعيد ورش په ١٩٧ هـ سنه کي وفات سوی دئ .

(عبد الله بن عامر الشامي)

عبد الله بن عامر الشامي رحمة الله عليه د اصحابانو مبارکانو په لړ کي حضرت نعمان بن بشير ﷺ او حضرت واثلة بن اسقع ﷺ ليدلي وه نوموړي عالم د قراءة په علم کي د حضرت مغيرة بن شهاب مخزومي رحمة الله عليه څخه زده کړي ،کړي دي د ده قراءة د شام په سيمه کي ډېر مشهور دئ او په ١١٨ هـ سنه کي وفات سوی دئ ، د هغه کسانو په لړ کي چي د ده څخه يې د قراءة روايتونه کړي دي هشام اوزکوان نومي قاريان مشهور دي .

(أبو عمرو زبان بن العلاء بن عمار البصري)

أبو عمرو زبان بن العلاء بن عمار البصري د حضرت سعيد بن جبير رحمة الله په واسطه د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ او حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه د قراءة په ځانګه کي زده کړي کړي دي، د نوموړي عالم قراءة په بصره کي زيات مشهور دئ او په ١٤٥ هـ سنه کي وفات سوي دئ ، د ده د قراءة په راويت کونکو کي ابوعمر الدوري او ابوشعيب سوسي رحمة الله عليهما نوموتي کسان دي ،ابوعمر الدوري رحمة الله عليه په ٢٤٦ هـ سنه کي او ابوشيعب سوسي رحمة الله عليه په ٢٦١ هـ سنه کي وفات سوی دئ.

(عاصم بن ابي النجود الاسدي)

عاصم بن ابي النجودالاسدي د حضرت زر بن حبيش رحمة الله عليه په واسطه د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه د قراءة په ځانګه کي زده کړي ،کړي دي همدا ډول يې د ابو عبدالرحمٰن سلمي رحمة الله عليه په واسطه د حضرت علي ﷺ څخه قرانکريم زده کړی دئ د نوموړي عالم کنية نوم ابوبکر دئ ، د لوړو تابعينو څخه دئ د اصحابانو په لړ کي يې د ابي رمثة رفاعة التميمي ﷺ او حارث بن حسان البكري ﷺ سره ليدلي دي ده مبارک د دغه دواړو اصحابانو څخه يو ، يو حديث رانقل کړی دئ چي د لومړی صحابي حديث يې مسند امام احمد بن حنبل رانقل کړی او ددوهم صحابي حديث يې سنن ترمذي رانقل کړی دئ .
حضرت عاصم رحمة الله عليه په خپله زمانه کي يو لوی عالم ؤ، سپېڅلي او د تقوای څښتن وو ښه بېلګه يې د اده چي عبدالله بن احمد بن حنبل فرمايي: ما د خپل پلار احمد بن حنبل څخه وپوښتل چي عاصم څنګه عالم دئ ؟ پلار په ځواب کي راته وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره ، صالح او ثقة انسان دئ بيا مي ترې وپوښتل چي كوم قراءة دي خوښيږي ؟ پلار په ځواب كي راته وويل : دمدينه والو قراءة مي خوښ دئ بيا مي ورته وويل : كه هغه نه وو ؟ پلار په ځواب كي راته وويل : د عاصم قراءة غوره دئ .

حضرت عاصم بن ابي النجود رحمة الله عليه په ١٢٨ هـ سنه كي د دې فاني نړی څخه دشام په سيمه كي سترګي پټي كړي دي د ځينو په آند د ده وفات په كوفه كي سوی دئ .

ډېرو كسانو دده څخه روايتونه كړي دي خو په ټولو كي نوموتي روايت كونكی حفص بن سليمان او ابوبكر شعبة بن عياش رحمة الله عليهما دي ، حضرت حفص بن سليمان په ١٨٠ هـ سنه كي وفات سوی دئ او حضرت شعبة بن عياش په ١٩٣ هـ سنه كي وفات سوی دئ .

(حمزة بن حبيب الزيات (رح))

حمزة بن حبيب الزيات د نوموتو قاريانو د ډلي څخه دئ نوموړي د سليمان اعمش څخه ، سليمان اعمش بيا د يحيى بن وثاب څخه ، يحيى بن وثاب بيا د زر بن حبيش څخه زده ، زر بن حبيش د حضرت عثمانﷺ ، حضرت عليﷺ او حضرت عبدالله بن مسعودﷺ څخه د قراءة په ځانګه كي لاسته راوړني كړي دي .

د ده د قراءة په روايت كونكو كي مشهور خلف بن هشام او خلاد بن خالد دي ، خلف بن هشام په ١٨٨ هـ كي او خلاد بن خالد په ٢٢٠ هـ سنه كي وفات سوي دي .

(ابوالحسن علي بن حمزة الكسائي النحوي)

ابو الحسن علي بن حمزة الكسائي النحوي په ١٨٩ هـ سنه كي وفات سوی دئ قراءة يې د كوفې په سيمه كي زيات مشهور وو د ده دقراءة په روايت كونكو كي ابو الحارث مروزی او ابو عمر الدوري رحمة الله عليهما زيات مشهور دي .

يادونه : هغه علماؤ چي قراءتونه يوازي اوه نه بولي بلكي په دې آند دي چي د دغه اوو مشهورو قراءتونو پرته نور قراءتونه هم سته درې قاريان يې نور هم رانقل كړي دي چي د لاندي قاريانو څخه عبارت دي :-

لومړی : يعقوب بن اسحاق خضرمي رحمة الله عليه چي د سلام بن سليمان الطويل څخه يې د قراءة په ځانګه كي زده كړي كړي دي او هغه بيا دعاصم او ابو عمر رحمهما الله څخه زده كړي كړي دي او په كال ٢٢٥ هـ كي وفات سوی دئ .

دوهم : خلف بن هشام رحمة الله عليه چي د حمزة بن حبيب الزيات تر عنوان لاندي يې بيان وسو .

دريم : ابوجعفر يزيد بن القعقاع رحمة الله عليه دئ چي د حضرت عبدالله بن عباسﷺ ، حضرت ابوهريرةﷺ او حضرت ابى بن كعبﷺ څخه يې زده كړي كړي دي او په كال ١٣٠ هـ كي وفات سوی دئ ، قراءة يې په مدينه منوره كي دود وو .

د ځينو په آند مشهور قراءتونه څوارلس دي چي لس يې پور ته ذكر سوه او څلور يې نور هم ذكر كړي دي چي نومونه يې په لاندي ډول دي :-

لومړی:حسن بصري رحمة الله عليه چي نوموتی تابعي دی، په كال ١١٠هـ كي وفات سوی دی او قرءة يې په بصره كي مشهور دئ.

دوهم : محمد بن عبدالرحمٰن ابن محيص رحمه الله چي د حضرت مجاهد رحمه الله شاګرد وو او د ابو عمرو رحمه الله عليه استاذ وو او په كال ١٢٣هـ كي وفات سوی دئ قراءة يې په مكه مكرمة كي مشهور دئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم : يحيیٰ بن مبارك يزيدي رحمه الله دئ چي دحمزه او ابوعمرو رحمهما الله څخه يې زده کړي ،کړي وې او په کال ۲۰۲ هـ کي وفات سوی دئ .

څلورم : ابو الفرج محمد بن احمد شنبوري رحمه الله عليه دئ چي د ابن شنبوري رحمه الله عـليه څخـه يـې زده کـړي ، کـړي دي او پـه کال ۳۸۸ هـ کــي وفات سوی دئ .

په هر صورت کي په دغه څوارلس قراءتونو کي لومړني لس مشهور دي او د دې جوګه دي چي تـقليد يې وسي او پاته څـلور قراءتـونـه شـاذ دي .

(د قاري يا مقرء تعريف)

قاري په لـغـت کـي د لوستونکي په معنٰی دئ او د تجويد په اصطلاح قاري يا مقرء و هغه چاته ويل کيږي چي د تجويد د قانون لمخي قرآنکريم په صحيح طريقه باندي ووايي او د تجويد پر اصولـو باندي هم بر لاسي ولري او دقراءة سلسله دپورتنيو ذکر سـوو لارو څخه رسول الله ﷺ تـه رسېـدلې وي .

(دقاري ډولونه)

قاري پر دوه ډوله دئ چي د لاندي ډولونو څخه عبارت دي :

۱ : مبتدي ۲ : منتهي

مبتدي قاري : د هـغـه قـاري څـخـه عـبـارت دئ چـي د يـوه څـخـه تـر دريـو قـرائـتـونـو پـوري يې زده وي .

منتهي قاري : د هغه قاري څخه عبارت دئ چي د متواترو قرائتونو په لړ کي يې تر دريو زيات قرائتونه زده وي .

(د صحيح قرآءة رکنونه)

د صحيح قرآءة لپاره درې رکـنـونـه دي کـوم څـوک چـي نومـوړي درې رکـنـونـه پـر ځـای کړي قرآءة يې صـحـيح دئ او که چا پـر ځـای نـه کـړه نـو قـرآءة يې درسـت نـه دئ عـمـل نـه دئ پـه روا .

لومړی رکن : د عربي لـغـتو ديـوې منـل سـوي او مـشهوري طـريقې سره به تلاوت برابر وي که څه هم هغه طريقه ضعيفه وي .

دوهم رکن : قراءة به د هغه رسم سره برابر وي چي د حضرت عثمان ﷠ څخه رانقل سوئ دئ يا په بل عبارت :-

درسم خط عثماني سره به برابر وي .

دريم رکن : د قراءة سند به په تواتر سره د رسول الله ﷺ څخه رانقل سوی وي .

(د قرآنکريم د ويلو مرتبې)

د قرآنکريم د تلاوت مرتبې درې دي چي د لاندينيو مرتبو څخه عبارت دي :-

۱- ترتيل ، ۲- تدوير ، ۳- حدر .[10]

۱- ترتيل : نوموړي هغه مرتبه ده چي تلاوت په ښه ا رامتيا سره تر سره سي ، سره له دې چي په معنٰی کي يې هم فکر وسي او

10 : للقرآءة ثلاث مراتب : الترتيل ، والتدوير ، والحدر .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تجوید ټولي قاعدې هم ورسره رعایت سي همدا مرتبه تر ټولو ښه مرتبه ده ځکه الله ﷻ د همدې مرتبې امر کړئ دئ.[11]

۲-تدویر: دا هغه مرتبه ده چي نه ډېره کراره ده اونه هم ډېره چابکه ده البته د تجوید قواعدي پکښي مراعاته وي نومورې مرتبه په غوره والي کي ترتیل ته نږدې ده .[12]

۳-حدر : نومورې مرتبه د تلاوت تر ټولو چابکه مرتبه ده البته د تجوید ټولي قاعدې به ورسره مراعاته وي .[13]

پاته دي نه وي چي په پورتنیو ټولو مرتبو سره تلاوت کول جائز دئ مګر لومړی مرتبه تر ټولو غوره مرتبه ده .[14]

یادونه : ځینو علماؤ څلورمه مرتبه د تحقیق په نامه هم ښودلې ده نومورې علماء زیاتوي چي دا داسي مرتبه ده چي په ارامتیا کي تر ترتیل هم پورته ده دوئ دغه مرتبه د شاګردانو د تعلیم لپاره غوره ګڼلې ده خو غوره خبره داده چي پرهېز څني وسي ځکه په همدې مرتبه کي د دې وېره ده چي افراط به رامنځته سي د زیات افراط له امله به غلطي رامنځته سي .[15]

(په تلاوت کي دآواز ښایست)

څرنګه چي په معاصر وخت کي په ښکلي آواز د تلاوت د لهجو بازار بیخي زیات تود دئ ډېر خلک په دې موخه ډول ، ډول تلاوتونه اوري چي پر ښکلي آواز یې خوند واخلي د قرآن وحقیقت ته یې بیخي پام نه وي په همدې وجه باید موږ دې ته څېر سو چي د تلاوت د اورېدلو څخه موخه ښکلی آواز نه بلکي د قرآن الفاظو په صحیح ډول اورېدل دي که څه هم ښکلی آواز په تلاوت کي غوره رول لري او نا جائز هم نه دئ بلکي رسول الله ﷺ یې امر هم کړئ دئ او فرمایي :- اقرؤالقران بلحون العرب واصواتها وایاکم ولحون اهل العشق ولحون اهل الکتابین وسیجئ بعدي قوم یرجعون بالقران ترجیع الغناء والنوح لایجاوزحناجرهم مفتونة قلوبهم و قلوب الذین یعجبهم شانهم . (رواه البیهقي)

ژباړه : قرآن د عربو په لهجو او په ښکلو آوازو د دوي ولولئ، د عشق د څښتنانو او د اهل کتابو د لهجو څخه ځان وساتئ ژر دئ چي زما څخه وروسته به یوقوم (ډله) راسي چي دوئ به قرآن د سرود (ترنم) اوسندرزیو ژړاو په ډول لولي اوقرانکریم د دوئ د ژړونو څخه نه شوه کیږي دنومړو کسانوزړونه به په فتنو کښي مبتلاوي اوهمدا ډول هغه کسان چي د دوئ دا ډول تمثیل خوښوي.

په پورتني حدیث کي رسول الله ﷺ امر کړی دئ چي تاسو د قرانکریم تلاوت د عربو د ښکلو آوازنو په څېر وکړئ داچي د عربو ښکلي آوازونه چښي دي په اړه یې یو عالم فرمایي : مراد د ښکلو آوازنو څخه د قرانکریم داسي تلاوت دئ چي پر خپله سلیقه او طبعه برابر وي یعني نه کوم زیادت او نه کمي پکښي وي .

دا چي رسول الله ﷺ د کومو آوازنو منعه کړې ده هغه آوازونه دي چي دسندرو سره ورته وي یعني هغه مقامونه په تلاوت کي رعایتول کوم چي د موسیقي په علم پوري اړه لري .

---

11 : اما الترتیل : فهو قرآءة القرآن الکریم بتؤده وطمانینة مع تدبر المعاني ومراعاة احکام التجوید ، وهذه المرتبة هي افضل المراتب الثلاث حیث نزل بها القرآن الکریم والله سبحانه وتعالي امر لنبیه بها فقال : ﴿ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلاً ﴾ سورة المزل الایة ٤ . غایة المرید ص : ٢٠ ، البرهان في التجوید القرآن للشیخ محمد الصادق قمحاوي ص : ٦ .

12 :اما التدویر : فهو قرآءة القرانکریم بحالة متوسطة بین الاطمنان والسرعة مع مراعاة الاحکام ، وهي تلي الترتیل في الافضلیة . غایة المرید ص : ٢٠ .

13 : واما الحدر : فهو قرآءة القرآن الکریم بسرعة مع المحافظة علي احکام التجوید . غایة المرید ص : ٢٠ .

14 : وهذه المراتب کلها جائزة . غایة المرید ص : ٢٠ .

15 : وذکر بعض علماء التجوید مرتبة رابعة ، وهي مرتبة التحقیق ، وقالوا بانها اکثر تؤدة ، واشد اطمنانا من مرتبة الترتیل ، وهي التي تستحسن في مقام التعلیم ، ولکن لابد ان یحترز معها من التمطیط والافراط في اشباع الحرکات حتی لایتولد منها بعض الحروف ، ومن المبالغة في الغنات الي غیر ذالک مما لایصح . (غایة المرید ص : ٢٠) ، نهایة القول المفید للشیخ محمد مکي ص : ١٥ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت داسي د آواز ښكلا چي د قرانكريم تلاوت د خپلي اصلي وضعي څخه اړوي يا زيادت او نقصان پكښي پيدا كوي حرام يا مكروه دئ .

كومي طريقي چي نا جائز دي وروسته به يې ټول ډولونه راسي څكه په مخكني حديث كي يې منعي ته اشاره وسوه .

د دې تر څنګ داسي د آواز ښكلا چي د تلاوت منقوله طريقې ته كوم تاوان نه رسوي هغه جائز دئ چي د هغه ټول ډولونه به هم په خپل وار راسي .

(په تلاوت كي نا مشروع لهجې)

حكم	تعريف	بڼه	شماره
حرام	چي په حروفو كي زيادت كوي	تمطيت	۱
حرام	چي د وقف په وخت كي همزة پيداكي	تهمين	۲
حرام	چي د كلمې په مينځ كي وقف وكي	تعويق	۳
حرام	چي يو حرف ئې لا نه وی پوره كړی بل شروع كړي	تحريص	۴
حرام	چي ټول حروف پوره او ډك وائي	تفخيم	۵
حرام	چي ټول حروف باريك وائي	ترقيق	۶
حرام	د سندرو په بڼه تلاوت كول	زمزمه	۷
حرام	بې ځايه ادغام كول	رقزه	۸
حرام	د ډكوالی د ډېروالي له امله د عين آواز پيداكول	انعنه	۹
حرام	د تلاوت پر مهال بې ځايه سكتې كول	تقطع	۱۰
حرام	حروف مده له منځه وړل	الجاز	۱۱
حرام	دومره چابک تلاوت كول چي له امله يې حروف له منځه ولاړسي	تعجيل	۱۲
مكروه	د حركاتو نامعلومه اداكول	تمفيش	۱۳
مكروه	د تلاوت پر مهال خوله ژوول	تمزيخ	۱۴
مكروه	د مد آواز د پوزي لوري ته بيول	تتميد	۱۵
مكروه	په آواز كي شرنګی كول	ترخص	۱۶
مكروه	د مد كولو پر مهال آواز ښورول	ترعيد	۱۷
مكروه	لهجې توپيرول يعني د يوې لهجې څخه بلي لهجې ته تلل	تتعيد	۱۸
مكروه	په وېرجن ډول تلاوت كول	تحريز	۱۹
مكروه	د تلاوت كولو پر مهال آواز د پوزي لوري ته بيول	ترجيح	۲۰
مكروه	ډېر چابک تلاوت كول چي قواعدي ترې پاته سي	وحبه	۲۱
مكروه	مخفف توری مشدد كول يا مشدد توری مخفف كول	همهمه	۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳	لینیه	د لینو تورو پرته نور ټول حروف نرم ویل	مکروه
۲۴	نفره	د جنګ په څېر تلاوت کول	مکروه
۲۵	عدب	داسي تلاوت کول چي پیل او پای یې نه معلومیږي	مکروه
۲۶	قلقلة	د قلقلې د تورو پرته پر نورو تورو قلقله کول	مکروه
۲۷	زیادت	مد تر خپلي اندازې زیاتول	مکروه
۲۸	تطویل	حرکتونه تر خپلي اندازې زیات کشول	مکروه
۲۹	نقص	په نا معلوم ډول حرکات اداکول	مکروه
۳۰	تخلیت	د یوه حرف څخه بل حرف ته میل کول	مکروه

(غوره لهجې)

۱:- ترتیل التلاوت : منځ مهالی تلاوت کول چي نه ډېر چابک وي او نه ډېر کرار وي .

۲:- تجوید التلاوت: چی هر حرف د خپلو مخرجونو او صفتونو سره مل اداکوی .

۳:- تبین التلاوت: چي اورېدونکي ته په تلاوت کي د تجوید قاعدې ښیي .

۴:- ترسیل التلاوت: په داسي بڼه تلاوت کوي چي حروف ټول په خپلو مخرجونو کي ادا کوي او د صفتونو رعایت یې کوي - - د لحن څخه ځان ژغوري .

۵:- تحسین التلاوت: حروف په خپلو مخرجونو کي ادا کوي د آواز د ښکلا سره مل یې د صفتونو رعایت هم کوي .

۶:- توقیر التلاوت: د مخرجونو او صفتونو د رعایت ترڅنګ یې قراني عزت هم په زړه کي وي .

تمت بالخیر

ستاسو د دعاء په هیله

قاري احمد یاسیر ((لودین))

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library